عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۸/۱۲

# ملي وحدت
# زموږ د تاریخ په رڼا کي

## سريزه:

مشهوره تاريخي کيسه ده چي وايي کله چي ګوډ تيمور يا اميرتيمور کورګان آذربايجان او فارس، د توري او لښکرو په زور لاندي کړل نو د آل مظفر يا امير مبارزالدين د کورنۍ شهزاده ګان يې، چي کلونه کلونه يې پر دې سيمو پاچهي کړې وه او يو له بله يې سره وژلي او تباه کړي وه، پر دسترخوان سره راغونډ کړل او ورته وې ويل چي که تاسي ټولو اتفاق کړی وای نو نن به مو په ګډه يوه غښتلې پاچهي درلودلای. په ناستو شهزاده ګانو کي يوه ورته وويل چي که موږ اتفاق درلودلای نو نن به ته دلته ناست نه وای. تيمور هغه کړی ومسل او څه يې ونه ويل. په سبا يې د مظفريه کورنۍ ټول شهزاده ګان قتل عام کړل.

له هغو کسانو څخه را نيولي چي د افغان له نامه سره حساسيت لري او ځانونه افغانستاني بولي، تر هغو کسانو پوري چي د افغانستان له نامه څخه نفرت لري او غواړي چي خراسان يا آريانا يې وبولي تر هغو کسانو پوري چي د افغان په نامه او د افغانستان په هيواد افتخار کوي، ټول د ملي وحدت چيغي وهي. ټول وايي چي د افغانستان د ټولو بدبختيو او بدمرغيو اساسي علت بې اتفاقي ده او ملي وحدت د ټولو رنځونو علاج دی. سوال دا دی چي دا ملي وحدت، چي په تېره بيا د وروستيو څلوېښتو کالو راهيسي يې، چي د هر چا له خولې يې اورو، ولي د عنقا مرغه دی او ولي نه راځي؟ زه په دې عقيده يم چي ملي وحدت، د نورو ډېرو اجتماعي ښېګڼو او نعمتونو په څېر، يو کلتور دی. او کلتور، په يوه ټولنه کي، د خاصو اجتماعي ضرورتونو او د تاريخ د جبر په اساس وده کوي. افغانستان، له بده مرغه، د ملي وحدت تاريخ او سابقه نه لري او يا يې د هغه د منځته راتللو او کلتور کېدلو لپاره اجتماعي او سياسي جبر احساس کړی نه دی.

څه باندي درې سوه کاله مخکي، د پښتنو د تاريخ يوه له تر ټولو هوښيارو مشرانو خوشحال خان خټک ويل چي:

اتفاق په پښتانه کي پيدا نه سو
ګني ما به د مغول ګرېوان پاره کړ

د نولسمي پېړۍ په وروستيو کلونو کي، سيد جمال الدين افغاني ته دا خبره منسوبه ده چي ويل يې « افغانانو اتفاق کړی دی چي اتفاق به نه کوو»

مشهور انګرېز مستشرق هنري جورج راورټي د اېراني نادرافشار په مقابل کي د پښتنو د مقاومت د ماتېدلو په باره کي ليکي: « په ورپسي کال، نادر له مشهد څخه د هرات د ابداليانو د ځپلو لپاره حرکت وکړ. د هغه هدف دا وو چي ټول افغانان وځپي. او دی، د غلجيانو او ابداليانو تر منځ د موجودو دښمنيو له امله، برياله هم سو...»

راورټي وروسته د همدغه مخ په حاشيه کي ليکي: « د دې دواړو لويو قبايلو ترمنځ يوه ټينګ اتحاد به، چي يقيناً به نور قومونه هم ورسره يو ځای سوي وای، د جنګ نتيجې ته تغيير ورکړی وای...» راورټي ص ۶۱۰

د افغانستان په معاصر تاريخ کي، احمدشاه بابا لومړنی پاچا او زړه ور جنرال وو چي اوسنی افغانستان يې په واحد قلمرو کي شامل کړ او ان تر ډهلي، کشمير، سيند او بلوچستان پوري يې سِکه چلېدله. د هغه له وفات ۱۷۷۳ څخه وروسته، په دې څه کم دوه نيمو پېړيو کي، افغانستان په لس هاوو ځله د خارجي قتل عامونو او خپل منځي خونړيو جنګونو په ميدان بدل سوی دی. په سيمه کي ښايي بل هيواد د داسي بېرحمانه قتل عامونو او ناپايه قومي دښمنيو او خونړيو داخلي جنګونو تاريخ ونه لري.

د دې بدبختيو او خپل منځي بې اتفاقيو او جنګونو اساسي علت دا دی چي افغانانو، هروخت، د پرديو په مقابل کي، داسي قومي مقاومت کړی دی چي له لويه سره يې ملي صبغه نه ده درلودلې. له تاجکو څخه نيولې، تر اوزبيکو، هزاره او پښتنو پوري ټولوقومونو، په يوه چېغه او يوه سلا، توري او وسلو ته لاس کړی دی، پردي يې پسي اخيستي او د پرديو تر ماتولو او شړلو وروسته يې سمدستي د يوه بل غاړي او ګرېوان ته لاس اچولی؛ زړې دښمنی بيرته تازه سوي او ژوندی سوي او داخلي جنګ، له سره، پيل سوی دی. څرنګه چي دې لويو قومونو، يو له بله او پښتنو په خپلو منځونو کي، د پرديو په مقابل کي د مقاومت د پيل کولو څخه مخکي وحدت نه دی درلودلی او يوازي د ګاونډيتوب د مجبورت په اساس يې د يوه بل تر څنګ په سوله کي ژوند کړی دی نو هر کله چي د ټولو قومونو د خاوري، مځکو، جايدادونو او مذهب عمومي دښمن ماته خوړلې ده د دوی ترمنځ هم د وحدت زمينه له منځه تللې او بيرته يو په بل سره لګېدلي دي.

په اصل کي، د هر اجتماعي پاڅون او عکس العمل ماهيت د هغه د عامل په اساس ټاکل کيږي. څرنګه چي د افغانانو د هر پاڅون عامل د هغوی پر خاوره او ګټو باندي د پرديو او بېګانه قواوو يا هيوادونو تېری دی نو، طبيعي خبره ده، چي د پرديو له وتلو يا د جنګ او مقاومت د اصلي عامل له ليري کېدلو څخه وروسته حالات بيرته خپل پخواني شکل ته ګرځېدلي دي. که د بېګانه له يرغل څخه مخکي اتفاق موجود وو نو دوام يې کړی دی او که بې اتفاقي موجوده وه نو هغه هم بيرته خپل پخواني حالت ته ګرځېدلې ده.

د ملت کېدلو او ملي يووالي لپاره، د يوه قوم يا قومونو ترمنځ، د مشترکو ملي ګټو وجود، چي تر ټولو عمده عامل دی، تر ټولو مهم عنصر دی. د قومونو د يوموټی کولو لپاره د پاچاهانو او سردارانو قوت او تدبير او دغه راز د منورينو تبليغ ښايي دوهمه درجه اهميت ولري. په افغانستان کي لومړی عامل هيڅ وخت موجود نه وو او پاچاهانو او سردارانو يا د قومونو ترمنځ د ملي يووالي عمده اجتماعي ضرورت ته توجه نه ده کړې او يا يې د ايجادولو او ودي ورکولو

لپاره فرصت نه دی درلودلی او منورینو هم، په دې برخه کې، یا خپله وظیفه سرته نه ده رسولې او یا یې حتی منفي رول لوبولی دی.

د مشترکو ملي ګټو نه موجودیت د دې معنی نه لري چې ګواکې ملي وحدت او یووالی ممکن نه دی او یا باید د عنقا خیالي مرغه وبلل سي. د افغانستان خلک، دا اوس ګړی، د مشترکو ګټو په مقابل کې دونه مشترک دردونه لري چې له بدخشان څخه نیولې تر هیلمند او هرات پورې، تاجک، اوزبیک، هزاره او پښتانه ټول پکښې شریک دي. په دې تیرو څلویښت کلنو غمیزو کې ټول قومونه د داخلي جنګونو، بې امنیتیو، د زورواکانو له تېریو او ظلمونو، په مخدره موادو اعتیاد، بېکاریو او بې کوریو له لاسه کړېدلي دي. په افغانستان کې هیڅ قوم نه سي کولای چې د دې مشترک درد علاج په یوازې سر وکړي. د دې مشترک درد علاج یوازې له مشترک طبیب سره دی او هغه ملي یووالی دی. د پېړیو د دې لاعلاجه رنځ د علاج کولو لپاره یوازې د مشرانو او منورینو ایمانداري په کار ده .

که څه هم چې د شورویانو له ماتې او په کابل کې د کمو نیستي رژیم له رنګېدلو څخه مخکې هم، د افغانانو او د هغوی د سیاسي تنظیمونو ترمنځ د اتحاد چنداني مزه نه وه؛ خو د مجاهدینو تنظیمونو، چې د افغانستان په تاریخ کې یې ښایی تر بل هر وخت د افغانستان د بېلو بېلو قومونو او توکمونو، د تل لپاره، د یو موټی کولو امکانات درلودلي وې، له بده مرغه، د خپلو سیاسي اغراضو او ګټو لپاره، او د پردیو په ځرګند لمسون، قومي بې اتفاقیو ته نوره هم لمن ووهله. مختلفو قومونو او ژبو ته منسوبو منورینو، په تېره بیا په بهر کې اوسېدونکو او په ژبه پوه او تحصیل کړو کسانو، د دې پرځای چې د افغانستان د دې دایمي رنځ د علاج کولو لپاره ګامونه پورته کړي او لږترلږه د ملي وحدت راوستلو یوه تبلیغاتي قوه سي، په پاکستان او ایران کې د ډېره تنظیمونو سره خپل ږغونه یو کړل او د ملي وحدت د راتللو په مخنیوي کې یې مضراو منفي رول ولوباوه.

په پاکستان کې د مجاهدینو د اوو تنظیمونو سره د ایران د شیعه مذهبو د اتو تنظیمونو شمېر پنځه لسو ډلو ته رسېدی خو په حقیقت کې هر تنظیم په خپل ځان کې، په ښکاره او په پټه پر نورو ډلو وېشل سوی وو چې په دې ډول یې شمېر تر پنځوسو زیاتېدی. په پاکستان کې، د مجاهدینو د ټولو تنظیمونو په اکثرو دفترونو کې دا مبارک آیت لیکلی وو: واعتصموا بحبل الله جمیعاً و لا تفرقوا. مګر په عمل کې یوه هم د دې آیت پیروي نه کوله او، د خپلو ناروا شخصي ګټو، او یا د پردیو د خوشالولو لپاره یې، په لوی لاس بې اتفاقیو ته لمن وهله. د تنظیمونو د مشرانو ترمنځ بې اتفاقیو، دښمنیو، موقتي اتحادونو د ماتېدلو او په قرآن شریف د سوګند خوړلو او سمدستي د سوګندونو او قولونو له ماتېدلو څخه ښکارېدله چې د دوی د بریا په نتیجه کې به هم افغانان د خیر مخ ونه ویني. او نتیجه هغسي سوه چې فکر او انتظار یې کېدی.

د انګرېزانو او روسانو په مقابل کې د افغانانو مقاومتونو د پردیو او کفارو په مقابل کې د جهاد شکل درلودی. څرنګه چې د افغانستان په سلو کې نهه نیوي اوسېدونکي مسلمان او مطلق اکثریت یې حنفي مذهبه سنیان دي نو د دین د مشترک دښمن په مقابل کې د یوه مشترک محاذ د جوړېدلو لپاره ډېره مساعده زمینه برابره سوې وه. خو کله چې د دین او خاورې دښمنان له هیواده وتلي او جهاد هدف ته رسېدلی دی نو د اتفاق کولو لپاره دلیل هم له منځه تللی دی. افغانانو بیرته یو پربل توري را ایستلي دي. خو که د شوروي اتحاد د سرولښکرو په مقابل کې د افغانانو وروستي جهاد ته، چې د شوروي سستم د بنسټ د لړزېدلو او نړېدلو، ډېر لوی، علت سو، ځیر سو نو ګورو چې د پردیو

یرغلګرو په مقابل کي نه د مقاومت له پیل څخه مخکي او نه د مقاومت په جریان کي اتحاد موجود وو. نو طبیعي خبره ده چي د هدف د ترلاسه کېدلو او د پردي یرغلګر د ماتېدلو څخه وروسته مو باید د اتحاد انتظار نه درلودلای. پر کابل باندي د مجاهدینو د څه باندي څلورکلني واکمنی په وخت کي، د مجاهدینو د بې اتفاقو مشرانو او تنظیمونو د عقیدوي او قومي اختلافاتو له امله، چي تر دغه وخته پوري هم پټ نه وه پاته، پر دی ښار باندي داسي بدي ورځي او حالات راغلل چي په خپل تاریخ کي یې نه وه لیدلي. مګر داسي هیڅ متحد ګوند او تنظیم پیدا نه سو چي د مجاهدینو د هغه ظلم او وحشت په مقابل کي ږغ پورته کړي او د راتلونکو بدمرغیو د مخنیوي لپاره د ملي یووالي بیرغ اوچت کړي.

د ۲۰۰۲ کال د پیل راهیسي، چي پر افغانستان باندي امریکا یرغل کړی او خپل د خوښي حکومت او نظام یې جاري کړی دی، په دې زیات وکم نولسو کالو کي اداري فساد، بې امنیتي، د مخدره موادو قاچاق او په مخدره موادو اعتیاد، بېکاري، لوږه او په ټولو اولسوالیو او ولایاتو کي د قوماندانانو او زورمندانو تیری، د کلیو، ښارونو او بانډو تباه کېدلو او هره ورځ د بېګناه ملکي خلکو قتلېدلو ټول قومونه متاثر کړي دي؛ مګر په دې نولسو کالو کي نه یوازي، د دې فاجعي د ختمولو په منظور، کوم ملی وحدت منځته نه دی راغلی بلکه قومي، ژبني او نژادي اختلافاتو نور هم زور اخیستی دی.

د افغان او انګلیس په لومړي جنګ ۱۸۳۹-۱۸۴۲کي، چي د افغانستان د اولسونو د تر ټولو لویو افتخاراتو او د انګلیسانو د امپراطوری یوه له تر ټولو شرمونکو ماتو څخه ګڼله کیږي، هم وضع تر دې بهتره نه وه. که، د انګرېزانو له ماتي څخه وروسته، امیردوست محمد خان کابل ته رسېدلی نه وای، د چارو واګي یې په لاس کي اخیستي نه وای او د خپل تدبیر او مړاني په زور یې کراري را وستلي نه وای ښایي د داخلي جنګ هغه اور، چي د انګلیسانو له وتلو څخه وروسته بل سو، تر ډېرو نورو کلونو پوري دوام کړی وای.

د دې مضمون د لیکلو انګېزه د افغانستان د مشهور مورخ مرحوم احمد علي کهزاد، چي خپل ټول عمر یې د افغانستان د تاریخ د تیاره کونجونو روښانولو ته ورکړ، هغه مضمون دی چي، له نن څخه پنځه شپېته کاله مخکي یې،  په ۱۳۳۳ کال کي، د آریانا په مجله کي چاپ ته سپارلی او په وروستیو وختونو کي د کهزاد بنیاد په آریایی ویبسایټ کي خپور کړی دی. زه به لومړی د مرحوم کهزاد د هغه مضمون، چي له خپل وطن او قام سره یې د ژوري او سپېڅلي میني په اساس لیکلی دی، پښتو ترجمه دلته رانقل کړم او بیا به خپل مطلب ته ولاړ سم:

## د شاه شجاع له قتل څخه وروسته د یوې قومي عهد نامې متن:

ترڅو په کابل او قندهار او جلال آباد کي د پردیو پر ضد د وطن له خاوري څخه د دفاع لپاره بهتره زمینه برابره سي.

د شاه شجاع الملک د قتل پېښه، چي د ۱۲۵۸ کال د صفري د میاشتي پر دیرویشتمه د چارشنبي په ورځ چي د ۱۸۴۲ کال د اپرېل د میاشتي له پنځمي سره برابره ده، منځته راغله. د سردار محمدزمان خان بارکزي زوی شجاع الدوله، هغه د بالاحصار او سیاه سنګ ترمنځ قتل کړ. دا د نولسم قرن له مهمو تاریخي پېښو څخه ده چي د هغې اصلي علت هماغه تنفر او ملي انزجار دی....

ګران لوستونکي بهتر پوهیږي چي د یرغلګرو قواوو په مقابل کي قهر او ملي ناخوښي څرنګه د ۱۸۴۱ د نومبر پر دوهمه ملي بڼه غوره کړه او له هغې ورځي بیا زموږ له خاوري څخه د پردیو تر وتلو پوري څه ډول پېښي منځته راغلي. د دي پېښو تشریح دلته لازمه نه ده او خلاصه یې دا ده چي د ملي ښورښ په نتیجه کي د فرنګي او د انګلیسي اشغالګرو قواوي او ګوډاګی شاه شجاع په بالاحصار او شېرپور کي له یوه بل څخه بېلیږي او یو له بله سره هیڅ مرسته نه سي کولای. کوهستاني مجاهدین چاریکار ته نیژدې د لغماني په نوم کلي کي د پردیو قواوو پوځي مرکز نیسي او د فرنګیانو څو تنه نیم ژواندي صاحب منصبان ایله ځانونه د شېرپور مرکز ته رسوي. په دې پسي په غزني د کرنیل پالمر پر ضد ملي تحریک پیل کیږي او دغه راز غلجیان د کابل جلال آباد لاره بندوي. څرنګه چي فرنګیانو ته د شېرپور په مرکز کي له هیڅ ځایه څخه مرسته نه سي رسېدلای نو انګلیسان ملي مشرانو ته د تسلیمېدلو په باب د یوه سند د ترتیبولو په باره کي د مفاهمې پېشنهاد کوي. وروسته، د انګلیس استازی او مختار نماینده مکناټن د پیمان ماتولو او د لمسونو له کبله وژل کیږي او له هغه څخه وروسته د مکناټن پر ځای مقرر سوي پاټنجر او د ملي مشرانو تر منځ تړون لاسلیک کیږي او د هغه په اساس د الفونسټن تر رهبری لاندي یرغلګر قوتونه له کابل څخه وزي.

ټولو ته څرګنده ده چي انګلیسانو زموږ د هیواد په بېلو بېلو ځایونو کي قواوي او صاحب منصبان درلودل. جنرال ناټ په قندهار کي ، جنرال سېل په جلال آباد کي. کرنیل ویمر په قلات کي او کرنیل پالمر په غزني کي. پر دې برسېره جنرال پالک، له یوې تازه نفسه قوې سره، په پېښور کي تیاری کاوه څو ډېر ژر د افغانستان خاوري ته ننوزي او جنرال سېل له محاصرې څخه وژغوري. وروسته نو په دسته جمعي توګه، په جلال آباد کي پر غازي سردارمحماکبرخان او د کابل جلال آباد په لاره کي پر نورو ملي مشرانو باندي حملي وکړي او د دوی په اصطلاح خپل کسات واخلي.

د ملي غورځنګ په وخت کي د ملی مشرانو او سردارانو وضعیت په مطالعه ارزي. او د هغومطالعه، تر هغه ځایه چي اسناد او مدارک مرسته کوي، په زړه پوري ده او دا کار باید په اوسني حال کي په ډېر غور او احتیاط وکتل سي. ځکه چي د اشخاصو اعمال او نظریات لا اوس هم پټ دي او تر څو چي د باوري اسنادو په رڼا کي د غورځنګ متضادي خواوي مطالعه سوي نه وي نو قضاوت به نیمګړی وي.

پوهیږو چي ملي غورځنګ د مکناټن په قتلولو سره شاه شجاع ته، چي اوس هم په بالاحصار کي وو، یو ډول خاص وضعیت منځته راووړ. شاه شجاع په داسي وخت کي ووژل سو چي انګلیس جنرال سیل په جلال آباد کي محاصره وو او سردار محمداکبرخان او یوه ډله غازیان په جلال آباد کي ورته پراته ول. د شاه شجاع قاتل، شجاع الدوله د محمدزمان خان بارکزي زوی وو چي کابل ته د سردار محمداکبرخان تر رسېدلو پوري د انګلیسیانو د لاس کوسي پاچا په مقابل کي، تر یوه وخته پوري، ځان د ملي مبارزینو منتخب پاچا باله خو پخپله یې هم د انګلیس دوستی احساسات درلودل.

په هر صورت، د شاه شجاع د پاچهي په چارو کي د فرنګیانو د عامل زیاتېدلو د سدوزیانو او بارکزیانو پخوانی دښمني له منځه یونه وړه بلکه وار په وار تازه کېدله. چي خبره را لنډه کړو، په داسي شرایطو کي چي انګلیسیان له کابله وتلي ول مګر د قندهار، قلات، غزني او جلال آباد په څېر ځایونو کي یې لا هم قواوي درلودلي او د پېښور څخه د نورو مرستیالو قواوو رسېدلو ته منتظر ول او د غازیانو او ملي مجاهدینو احساسات هم، په تېره بیا له کابل څخه د

انګلیسیانو د وتلو او غنیمتونو ترلاسه کولو څخه وروسته، ساړه سوي وه نو د شاه شجاع وژل کېدل داسي یوه پېښه وه چي ملي مشران او بېګانه قواوي یې، چي لا هم د افغانستان په خاوره کي وې، له یوې خاصي وضعي سره مخامخ کړل. انګلیسانو خپل تر تولو مهم همکار، یعني لاس کوسی پاچا له لاسه ورکړ؛ مګر څرنګه چي له افغانانو څخه د کسات اخیستلو په لټه کي وه نو کوښښ یې وکړ چي د شاه شجاع له اولاد څخه یو څوک د کابل پر تخت باندي کښېنوي.

ملي مشران په باطن کي پر ډلو یا لړترلړه دوو ډلو باندي وېشل سوي ول. ځیني د شاه شجاع او د هغه د اولاد طرفداران او ځیني د هغه د کورنۍ مخالف ول. په دې مابین کي، طبیعي خبره ده چي، د بارکزیو، سدوزیو او فوفلزیو( سدوزي پخپله د فوفلزیو یوه مهمه قبیله ده ج) نظریات سره مخالف دي. دلته نو ټول د روحانیونو طبقې ته چي د مرحوم میرواعظ زوی، میرحاجي یې مشر دی مراجعه کوي.

داسي ښکاري چي سردارمحمدزمان خان د سلطنت د مقام د ادعا په اساس او له دې امله چي زوی یې د شاه شجاع په وژلو کي لاس درلود؛ چي له یوې خوا یې د پاچا په قتلولو کي برخه درلوده او له بلي خوايي انګلیسي بندیانو ته په خپل کورکي ځای ورکړی وو نو غوښتل یې، چي که د انګلیسیانو په مرسته هم کیږي، تخت و تاج ته ورسیږي.

نایب امین الله خان لوګري، چي په ملي ګټو ښه پوهېدی، له انګلیسیانو سره د جدي مخالفت کولو تر څنګ یې غوښتل چي په یوه حساسه مرحله کي د سلطنت پایې ونه نړیږي نو یې غوښتل چي د شاه شجاع له زامنو څخه یو تن، په تېره بیا فتح جنګ پر تخت کښېنوي. او عملا هم هغه پر تخت کښېناست.

هغه عهد نامه چي له نېکه مرغه یې متن زموږ په لاس کي دی ډېر مغتنم او په زړه پوري سند دی چي په دغه نازک وخت کي، چي د ملي مشرانو ترمنځ د بې اتفاقي او درز د پیدا کېدلو وېره موجوده وه، موږ ته معلومات راکوي. موږ د دې عهدنامي له مخي ویلای سو چي څرنګه ځینو مشرانو د جنګ لپاره ځانونه تیار کړي وه او دغه راز د پوپلزیو، بارکزیو او قزلباشو د مشرانو هوښیاري څرګندوي. دا له افتخاره ډک پیمان د پردیو پر ضد د ملي ارزوګانو د یووالي سند دی. ملي مشرانو په څرګنده په جلال اباد او قندهار کي د فرنګیانو د قواوو د وجود خطر احساس کړی وو او د خارجي دښمن پر ضد یې په بهترینه توګه سنګر نیولی وو. هري ډلي ته وظیفه ورکړه سوې وه چي جلال آباد او قندهار ته متوجه سي او د مملکت د مرکز وضعیت هم په پام کي ونیسي.

د روحانیونو پر مشر میرحاجي باندي د ټولو اعتماد داسي یو څرګند حقیقت دی چي ټول په پوهېدل. د سردارمحمدزمان خان په کور کي  د فرنګیانو د پناه اخیستلو موضوع هم چا له نظره نه ده غورځولي او په ډېر غور یې داسي ترتیبات نیولي دي چي نوموړی سردار د هغوی له دسیسو څخه په څنګ پاته سي او هغوی ملي قواوو ته تسلیم کړي او که چیري په دې باره کي پلمي او بهاني کوي نو په ټولو دي فرنګیان د هغه له کوره را وایستل سي او کنترول دي ورڅخه واخیستل سي.

د دې عهد نامي په پای کي دیارلسو مختلفو مشرانو لاسلیکونه کړي دي چي نومونه یې له مهرونو څخه ښکاري. د عهدنامي متن داسي دی:

بسم الله الرحمن الرحيم

د دغه خیراوښېګڼو د کلماتو له لیکلو ښخه مطلب دا دی چي په دې شپو ورځو کي د درانیو د بارکزیو طایفي جنت مکان شاه شجاع الملک، پرته له هیڅ دلیله، شهید کړی دی. د دې پېښي له امله د درانیو د پوپلزیو او بارکزیو د قبیلو ترمنځ شخړه پېښه سوه. دواړو خواوو د افرادو او سړیو په تولولو پیل وکړ او د جنګ په تکل کي سول. د کابل خیر غوښتونکو مسلمانانو له سیادت پناه سلاله السادات العظام الکرام جناب میرحاجي صاحب، او شرافت پناه خواجه نصیر او نایب حمزه خان او د لهوګرد عالیجاه معلی جایګاه حشمت و شوکت دستګاه عمدت الخوانین العظام زبدت الکبرا الفخام نایب امین الله خان امین الدوله او سرفراز خان او د قزلباشیه له خانانو او مشرانو عالیجاه رفیع جایګاه حشمت و شوکت دستګاه عمدت الامراء العظام سردار امیراصلان خان جوانشیر او قاضي ملانورمحمد خان او محمدباقرخان بیات او غلام حسن خان افشار او د غلجیو له خانانو عالیجاه غلام رسول خان او ملک ظفرخان ښخه د حضرت رسالت پناه جناب سرورعالم صلعم د مبین دین د تقویه کولو او د کفارو نصارا د شرمولو او خرابولو په منظور دا حقیقت درک کړی دی چي که دا جګړه فیصله نه سي نو ځرنګه چي د کفارو کومکي قواوو د پېښور او قندهار له لوري د اهل اسلام د ولایت د تسخیرولو او د احمد مختار صلعم د دین خرابولو ته ملا تړلي ده او ژر دی چي را ورسیږي نو دا باید په خیر او بهتره وبولو چي د بارکزیو طایفه دي حتما د جلال آباد پر لور ووزي او په جلال اباد کي د موجودو کفارو او د هغوی مرستي ته له پېښوره د رارسېدونکو قواوو مقابله او جهاد د دوی وظیفه ده. د فوفلزیو خانان او مشران دي له یوه تن شهزاده سره د قندهار پر لور روان سي  او په قندهار کي دي د کفارو له قواوو سره او یا له هغو قواوو سره چي د قندهار خواته راځي جهاد وکړي او د هغوی د ځپلو په فکر کي دي سي. او فتح جنګ پاچا چي د شریعت نبوي صلعم په شرط د اسلام پاچا مقرر سوی دی همداسي پاچا وي او د کابل په بالاحصار کي دي وي. د کابل مشران، امین الدوله او د قزلباشو او غلجیو خوانین او مشران اختیار لري چي له بارکزیو سره جلال آباد ته ځي او که له فوفلزیو سره د قندهار پر لور روانیږي. که په دې دوو طایفو کي هره یوه دا فیصله ونه مني نو زموږ دي په خدای او رسول او ځلورو یارانو قسم وي چي هغوی ته به سزا ورکوو او له دې دوو طایفو ښخه چي هره یوه له فرنګي سره اتفاق وکړي او د اسلام د خرابی کوښښ وکړي تول به په یوه سلا د هغوی د ځان او مال دښمنان یو او هر ځوک چي له دې فیصلي او تړون ښخه تېری وکړي د خدای او رسول او چهاریارکبار دښمنان به وي. دا ځو کلمي د ۱۳۵۸ کال د صفرالمظفر په میاشت کي ولیکل سوې. ختم الله بالخیر والظفر.

بله دا چي هغه فرنګیان چي د نواب محمدزمان خان په کور کي دي باید چي سیادت پناه میرحاجي صاحب ته یې وسپاري او که چیري بهاني کوي په اتفاق یې د سردار له لاسه باسو او میرصاحب ته یې سپارو.

کابل ۱۳۳۳ هجری سمیب / مجله آریانا

** * ** * **

د قومي مشرانو دا  موافقتنامه د متن په اساس د قدر وړ ده او خپل خاص تاريخي اهميت لري. مګر موافقتنامه هغه وخت اهميت پيدا کوي چې د عمل جامه واغوندي او يا لږترلږه يوه برخه يې عملي سي. په داسي حال کي چې د نوموړي موافقي په خلاف، نه بارکزي، د جنرال سېل د قواوو د خپلو لپاره مشرقي ته ولاړل؛ نه پوپلزي د جنرال ناټ سره د مقابلي لپاره کندهار ته روان سول او نه غلجيو او قزلباشو، په دوی کي له يوه سره د ملګرتوب ضرورت احساس کړ. نه فتح جنګ ته چا د يوې ورځي آرامي پاچهی کولو وخت ورکړ. او محمدزمان خان هم هغه وخت خپل انګرېزي يرغمل ميرحاجي ته ورتسليم کړل چي نور يي نو مقاومت له توانه وتلی وو.

## په افغانستان کي د انګليسيانو له ماتي او وتلو څخه مخکي او وروسته حالات:

انګرېزانو له افغانانو سره په تاريخ کي ډيري زياتي جفاوي کړي دي خو د افغانانو سره لومړی جنګ يي ۱۸۳۹-۱۸۴۲ چي زموږ د مضمون موضع ده يو له هغو ظالمانه يرغلونو څخه دی چي يوازي د زورورو منطق يي منلای سي. برتانوي هند په دې پلمه چي  امير دوست محمد خان په کابل کي د روسيي استازی ويتکوويچ منلی او له روسيي سره يي د دوستی تړون لاسليک کړی او دغه راز د ايران پاچا محمد شاه قاجار، له روسيي سره د يوه تفاهم په اساس، د هرات ښار، چي انګرېزانو د هند دروازه بلله، محاصره کړی او په هند کي يي د برتانيي ګټو ته خطر پيښ کړی دی، پر افغانستان باندي يرغل وکړ او ويل يي چي دوی غواړي په افغانستان کي خپل يو ملګری او دوست پاچا ولري. خو پر افغانستان باندي د برتانوي هند د يرغل په وخت کي په کابل کي د روسيي استازی موجود نه وو او امير دوست محمد خان له هغه سره د دوستی تړون لاسليک کړی نه وو. دغه راز ايران د هرات محاصره پری ايښي او خپل پوځونه يي پر شا کړي او دا يي منلي وه( يا انګليسيانو په منلي وه)  چي پر هرات باندي به بيا يرغل نه کوي او دا ښار به د افغانستان خاوره بولي. پخپله د انګليسانو مورخين وايي چي برتانوي هند  ته د دې يرغل کولو  هيڅ پلمه نه وه پاته او دا يوه  لويه غلطي او جنايت وو.۳۶۹ Kaye p

حتی مکناټن، چي پر افغانستان باندي د برتانوي هند د يرغل او د کابل پر تخت باندي د شاه شجاع د کښېنولو ډېر ټينګ طرفدار وو، پر افغانستان باندي د برتانوي هند د يرغل څخه څه کم دوه کاله وروسته پښېمانه وو او دا يرغل يي يو ظالمانه اقدام باله. هغه ولیکل چي له دوست محمد خان سره ظلم سوی دی، چي بايد نه وای سوی.

هغه کتاب ص ۵۶۸

په هر صورت د انګليسيانو په مقابل کي يو کال وروسته ښورښونه پيل سول. امير دوست محمد خان، چي د قومي بې اتفاقی او په خپل پوځ او دربار کي د مشرانو د خيانت له وېري بخاراته تښتېدلی وو، د پاڅون مشري واخيستله او لږ وروسته يي ځان مکناټن ته تسليم کړ او  هغه هند ته واستاوه.

له دې څخه يو کال وروسته، د ۱۸۴۱ کال د نومبر پر دوهمه نېټه، په کابل کي اوسېدونکو مشرانو د انګليسيانو د قواوو د سياسي استازي او سلاکار الکيزانډر برنس پر کور باندي، چي د کابل خلکو سکندر باله، حمله وکړه او هغه يي له خپل ورور او نورو انګليسي افسرانو او عسکرو سره په اور کي وسوځاوه. د هغه منشي موهن لال، لومړی د نواب محمد زمان خان په کور کي پناه واخيستله او وروسته د قزلباشو د مشر خان شيرين خان په کور کي پټ سو.

دا وخت په کوهستان کي ټول اولسونه د انګليسيانو پر ضد پاڅېدلي وه. هرات د سدوزي ميرزا کامران او د هغه د وزير يارمحمد خان الکوزي په لاس کي وو. په هيلمند او کندهار کي اخترخان عليزي، عطامحمد خان دراني، ميرزا احمد خان او د شاه شجاع دريم زوی صفدرجنګ د انګليسي قواوو لپاره مځکه سره تبی کړې وه او د انګليسيانو د قواوو قوماندان جنرال ناټ، زياتره وختونه، په ښار کي دننه په محاصره کي ژوند کاوه. د کندهار له ښار څخه د باندي، د شمال پر لور، د کابل تر شاوخوا علاقو پوري، ټول غلجي قبايل پاڅېدلي او لاري بندي وې او په غزني کي د انګليسيانو قوه محاصره وه. په ختيځو ولايتونو کي ټول غلجي قبايل په ښور کي وه او شينوارو او نورو غلجي قبايلو په جلال آباد کي د انګليسيانو د قواوو د قوماندان جنرال سېل قوه محاصره کړې وه.

د کابل د عمومي پاڅون په ترڅ کي نواب محمد زمان خان د پاچا په حيث ومنل سو او د ياغيانو نورو مشرانو بيعت ورسره وکړ.څو ورځي وروسته سردارمحمد اکبرخان له باميان څخه کابل ته ورسېدی او د نورو مشرانو په څېر يې د نواب محمد زمان خان مشرتوب او پاچهي ومنله. مکناټن، د موهن لال پر لاس، چي د خان شيرين خان له کور څخه يې پټ تماس ورسره ټينګ کړی وو، د غازيانو د مشرانو د بې اتفاقه کولو لپاره، پيسي شيندلي او د قزلباشو يوه مشر نايب محمد شريف، د دې پيسو او رشوتونو د وېشلو لپاره ځان سختو خطرونو ته ورکړی وو.

موهن لال دوهم ټوک ص ۴۱۷

له دې پېښو څخه څه کم دوې مياشتي وروسته، په کابل کي د انګليسيانو پر قواوو باندي دونه مځکه تنګه سوه چي يوازي په کابل کي د شيرپور په قشله کي محصور سول. د ژمي موسم را ورسېدی، پر انګرېزانو باندي د خوراکي موادو او د سون د موادو محاصره دونه تنګه سوه چي نور يې ژوند ته دوام نه سو ورکولای. له جلال آباد او کندهار څخه د مرستو را رسېدل ځکه غير ممکن وه چي هم هغه قواوي پخپله د غازيانو په محاصره کي وې او هم تر کابل پوري لاري غازيانو بندي کړي وې.

يوازي مکناټن تر ډېره وخته د خپلو پوځيانو په قوت او د خپلو خزانو په زور مغروره وو. د جنرال سېل مېرمني ليډي سېل، چي د افغانستان د پېښو خاطراتو تاريخي شهرت ور په برخه کړ، ليکي « په ښار کي اوس زمان شاه خان قدرت لري. خلک وايی چي د کابل څخه به زموږ له وتلو څخه وروسته ډېر ژر يو خطرناک جنګ پيل سي. داسي جنګ نه لکه دوی چي زموږ سره وکړ بلکه د يوه بل کورونه به چور کړي. د يوه بل غاړي به په تورو پرې کوي. او پر موږ باندي به تر خوردکابل پوري حملي کيږي او يوازي په هغه سيمه کي به خوندي يو چي د امين الله خان د زوی په ولکه کي ده » لېډي سېل ص ۱۸۳

مکناټن لا هم په خپلو خيالونو کي ډوب وو او هر ګړی يې د وضع د بيرته سمېدلو تمه درلوده. هغه ته څو ځله هينري راولنسن له کندهاره څخه وليکل چي زموږ وضع ورځ تر بلي خرابيږي او داسي ښکاري چي د انګليسيانو د مخالفينو شمېر مخ پر زياتېدلو دی؛ خو مکناټن هغه ته وليکل چي وضع، د هغه د بدبينی په خلاف، دونه لا هم خرابه نه ده او دغه راز نظر درلودل او ليکونه لېږل، په حقيقت کي، د انګليسيانو روحيه کمزوري کوي. يو ځل خو يې د راولنسن د يوه ليک په جواب کي د افغانانو په باب وليکل:

« ... دا خلک فقط لکه ماشومان داسي دی او بايد چي د ماشومانو په څېر سلوک ورسره وسي. که موږ يو شوخ ماشوم له دوی سره خوشي کړو نو دا نور له هغه څخه بيريږي او آرام به کښيني. موږ د درانيو له مشرانو څخه ، د

دوی د لوبو سامان، قدرت اخیستی دی؛ او د دوی زړونه ناکراره دي. دوی د قدرت په استعمالولو نه پوهیږی. د دوی لپاره دا یو بې ګټي شی وو او حتی د دوی د بادار او مشر لپاره زیانمن وو او موږ مجبور یو چې دا قدرت زموږ خپلو پوهانو او عالمانو ته وسپارو. مشران ملایان لمسوي او ملایان خلکو ته تبلیغ کوي؛ مګر دا حالت موقتي دي او ژر به تېر سي » ډال ریمپل ص ۲۳۵

په قلا کي محاصره سوي مکناټن تر وروستي نفسه پوري د خپلي پخوانی او میراثي حربې، تفرقه واچوه سلطنت وکړه، څخه د استفادې کوښښونه وکړل. هغه موهن لال ته ولیکل چي خان شیرین خان ته یو لک او محمد حمزه ته پنځوس زره روپۍ ورکړي چي د مشرانو او قومونو ترمنځ د بې اتفاقی په اچولو کي یې ولګوي. هغه ولیکل چي د امین الله خان لوګري تربور محمد یارخان تشویق کړي او ورته ووایي چي که له امین الله خان سره دښمني وپالي نو قومي مشرتوب به ده ته وسپارل سي. موهن لال دوهم ټوک ص ۴۱۴

د مکناټن طلاوو او د موهن لال هلو ځلو، د دوی د انتظار په خلاف، دا ځل، کار ونه کړ او پر انګلیسي قواوو باندي مځکه ورځ تر بلي تنګه سوه. مکناټن بالاخره د غازیانو له مشرانو سره د یوې موافقي لاسلیک کولو ته مجبور سو. د ۱۸۴۱ کال د ډسمبر پر در ویشتمه، مکناټن له خپلو نورو انګلیسي افسرانو کولین میکینزي، جان لارنس، جان کانلي او کپتان ټریوور سره د قشلي څخه بهر له اکبرخان او قومي مشرانو سره خبرو ته کښېنستی. خبرو، تر لږ ځنډ وروسته، جدي شکل واخیستی او لاس په لستوني نښته پیل سوه. مکناټن د اکبر خان د توپنچي په ډز وویشتل سو او وروسته یې غازیانو سره ورڅخه پرې کړ. کپتان ټریوور له هغه سره یو ځای ټوټې ټوټې سو. میکنزي او جان لارنس ته محمد شاه خان غلجي او د هغه ورور دوست محمد نجات ورکړ او نواب محمد زمان خان جان کالني وژغوره. دا بندیان وروسته د محمد اکبر خان کورته انتقال سول، چي بیا څه وخت وروسته د نواب محمد زمان خان کورته ورسېدل.

له دې پېښي څخه وروسته د انګلیسیانو وضع نوره هم خرابه سوه او بالاخره، له افغانستان څخه د سمدستي وتلو په موضوع کي، له غازیانو سره داسي جوړي کولو ته حاضر سول چي په نتیجه کي یې له څلورنیم زره کسیزه پوځ او دوولس زرو خدمه او غریب کارو څخه یوازي یو تن ډاکټربرایډن، په زخمي بدن، جلال آباد ته ورسېدی. باقي پاته کسان یا د ژمي او واورو له امله په لار کي مړه سول او یا په لاره کي د هغو غازیانو په ډزو ووژل سول چي کنټرولول یې د اکبر خان تر توان او وس وتلی وو او ېری یې د کابل خلکو او غازیانو ژوندي ونیول او د کابل په بازارونو کي یې خرڅ کړل.

که څه هم چي لېډي سېل په خپلو خاطراتو کي لیکي چي د کابل د قواوو سیاسي مشر مېجر پوټینجر د کابل پر صرافانو باندي د څوارلس نیم لکو روپیو حواله ورکړه چي پر قومي مشرانو باندي ووېشلي سي او موږ تر پېښوره پوري سالم ورسوي، مګر هغسی ونه سوه. داسي ښکاري چي په لاره کي یوازي سردارمحمد اکبرخان، چي په غلجیو اقوامو یې زور نه رسېدی، له انګرېزانو سره ملګری وو. لېډي سېل د هغو قومي مشرانو چي پیسي یې ورسره منلي او د پیسو مقدار ذکروي:

محمد زمان شاه خان درې لکه.

امین الله خان شپږلکه.

خان شیرین خان، د قزلباشو مشر دوه لکه.

محمد اکبر خان یو لک.

عثمان خان دوه لکه.

د غلجیو مشران پنځوس زره. لېدي سېل ص ۲۲۲

یو شمېر انګلیسي افسران، ښځې او ماشومان اکبرخان ته تسلیم سول او هغه له ځان سره د بندیانو په توګه وساتل. د هند ګورنرجنرال لارډ آکلینډ د کابل د قواوو د ژغورلو او له غازیانو څخه د جلال آباد د قوې د خلاصولو لپاره جنرال پالک له هند څخه روان کړ او په کندهار کي یې جنرال ناټ ته اختیار ورکړ چي یا د بولان د درې له لاري هند ته ستون سي او یا د کندهار کابل لاره واخلي او د جلال آباد له لاري ځان هند ته ورسوي. کله چي د جنرال پالک قواوي پېښور او د خیبر درې ته ورسېدلي نو اکبر خان خپل انګلیسي بندیان لغمان ته واستول او ځان یې مقاومت ته تیار کړ.

## د کابل حالات:

کله چي انګلیسیان، چي د افغانستان خلکو، په تېره بیا د کابل اوسېدونکو یې په مقابل کي جهاد اعلان کړی وو، له کابل څخه ووتل نو شاه شجاع د خپل قوت او سلطنت د ټینګولو لپاره لومړی امین الله خان لوګري ته بلنه ورکړه او د هغه له لاري یې نور غلجي خانان او قزلباش د ځان طرفداران کړل. امین الله خان ته یې وظیفه ورکړه چي محمد زمان خان ته دوه لکه روپۍ ورکړي او د وزارت د منصب ژمنه ورسره وکړي. محمد زمان خان، په لومړي سر کي، ونه منله خو وروسته یې قناعت وکړ. هراتي ص ص ۱۴۰-۴۱

دا وخت لا محمد اکبر خان په جلال آباد کي وو او د شینوارو او غلجیو په مرسته یې د جنرال سېل د قواوو محاصرې ته دوام ورکړی وو. اکبرخان بالاخره د جنرال سېل د قواوو په مقابل کي ماته وکړه او دا وخت د جنرال پالک انتقامي قواوي هم جلال آباد ته ورسېدلي او محمد اکبرخان کابل ته پر شا سو.

اکبرخان لا د جنرال سېل د قواوو په مقابل کي ماته نه وه کړې او لا کابل ته پر شا سوی نه وو چي شاه شجاع پر انګلیسیانو باندي ږغ وکړ چي د سلطنت د تقویه کولو او د خپلو دوستانو د ملاتړ لپاره پیسي ورته راولېږي؛ خو انګرېزانو د هغه پر غوښتنو باندي چنداني غوږ ونه نیوی. په کابل کي د مشرانو ترمنځ اختلافات ورځ په ورځ زیاتېدله. په کابل کي مشرانو پر شاه شجاع باندي فشار اچاوه چي د انګلیسیانو د جهاد لپاره، جلال آباد ته په تللو کي، د دوی رهبري وکړي. شاه شجاع له وېرې د بالاحصار څخه وتلای نه سو او له نواب زمان خان څخه یې خاصه وېره درلوده. نواب محمد زمان خان د هغه د اعتماد ترلاسه کولو لپاره خپله مېرمن ورولېږله او په قرآن شریف یې سوګند ورسره یاد کړ چي ده ته به وفادار پاتېږي او خیانت به نه ورسره کوي. شاه شجاع بالاخره د ۱۸۴۲ کال د اپرېل پر څلورمه د بالاحصار څخه ووت او د ماښام پر مهال بیرته بالاحصار ته راغی. د اپرېل پر پنځمه یې د خپلو یو شمېر سپرو سره، په سیاه سنګ کي، د خپل مرکز پر لور حرکت وکړ؛ خو په لاره کي د نواب محمد زمان خان زوی شجاع الدوله ورته پټ وو او ډزې یې ورباندي وکړې. شاه شجاع یې وواژه او په کابل کي د اختلافاتو او قدرت نیولو نوې هنګامه پیل سوه. ویل کیږي چي نواب محمد زمان خان سوګند یاداوه چي د خپل زوی په دې عمل کي یې لاس نه درلود او ویل به یې چي دی به د خپل زوی مخ ونه ګوري.

# د شاه شجاع له وژل کېدلو وروسته:

د شاه شجاع له وژل کېدلو څخه وروسته، د څه باندي شپږو میاشتو لپاره، چي امیردوست محمدخان بیرته کابل ته ستون سو، د کابل ښار او شاوخوا سیمو چنداني د کراری مخ ونه لیدی او د قومونو د مشرانو تر منځ هره شېبه نوي نوي اختلافات پیدا کېدل. د شاه شجاع دوهم زوی فتح جنګ په بالاحصار کي پاچا سو. امین الله خان لوګري هغه ته بیعت وکړ او ځان یې د هغه نایب مقرر کړ. غلجیو او قزلباشو مشرانو د هغه سلطنت ومانه او نایب امین الله خان له نواب محمدزمان خان څخه وغوښتل چي د کابل له ښاره څخه ووزي او کنه نو د خپلي سرکښی سزا به ووینې. بارکزیو د فتح جنګ پاچهي ونه منله او بیا یې نواب محمدزمان خان خپل پاچا کړ. دواړو خواوو ډېر ژر په مخامخ جګړه لاس پوري کړ. جنګ له لومړي سره،امین الله خان او فتح جنګ پیل کړ. د مي پر لومړۍ نېټه کور په کور جګړه ونښته او په ټول ښار کي اړودوړ وو. د مي پر دوهمه د باکرزیو خوا غالبه سوه. امین الله خان، په دغه وخت کي، یوه لویه اشتباه وکړه او هغه دا چي د کابل روحاني مشر میرحاجي یې ګرفتار کړ او غوښتل یې په دې توګه مخالفین کمزوري کړي. په داسي حال کي چي د هغه دغه حرکت د هغه په مقابل کي ټول کوهستانیان را وپارول. خلکو یې پر کور باندي حمله وکړه ؛ د هغه ټوله شته مني یې وسوځول؛ د هغه نوکران یې ونیول او هغه مجبورسو چي بالاحصار ته ننوزي. فتح جنګ، په ظاهره داسي ښودله چي ګواکي د امین الله خان طرفداري کوي او هغه له دښمنانو څخه ساتي مګر په باطن کي یې غوښتل چي امین الله خان او د هغه پوپلزي ملګري، کابل ته د جنرال پالک په رارسېدلو سره، انګلیسانو ته تسلیم کړي. امین الله خان ته د بالاحصار د دروازو له پرانیستلو څخه یې اصلي مطلب هم دا وو چي هغه او ملګري یې ښه په کنترول کي وساتي. امین الله خان پوهېدی چي وضعیت یې خطرناک دی او هر څه یې له لاسه وتلي دي او اعلان یې وکړ چي غواړي انګلیسیانو ته تسلیم سي او پرېږده چي هغوی یې غرغړه کړي؛ ځکه چي له بالاحصار څخه دباندي یې د بارکزیو په څېر خطرنګ او غښتلي دښمنان درلودل.

له بالاحصار څخه پر ښار باندي د توپونوډزي پیل سوې او د ښار خلکو یوې او بلي حواته ځغستل. په بالاحصار کي پنځه زره عسکر پراته وه او د ګولیو او باروتو هیڅ کمی نه وو. تولي پیسي د فتح جنګ په لاس کي وې او هغه خپلو طرفدارانو ته په خلاص لاس وېشلې. خو له بارکزیو سره چنداني پیسي او مهمات نه وه.

اکبرخان چي دا وخت له جلال آباد څخه پر شا سوی وو؛ نو کپتان میکینزي یې، چي له ده سره بندي وو، جنرال پالک ته د مذاکراتو لپاره لېږلی وو، چي د کابل له حالاتو څخه اطلاع ورته ورسېده. کله چي میکینزي را ورسېدی او د جنرال پالک پیغام یې ورته را ورساه نو اکبر خان هغه بیرته جنرال پالک ته واستاوه او پخپله له پوټینجر او ټروپ سره د کابل پر لور روان سو. په کابل کي یې داسي آوازه ګډه کړه چي له جنرال پالک سره یې جوړه کړې او هغه یې تر شا ولاړ دی. ډېر هغه کسان چي تر دغه وخته پوري بې طرفه وه د سردار د دې آوازې له اورېدلو سره د هغه ملګري سول. خان شیرین خان او د هغه قزلباش ملګري، چي تر دغه وخته پوري چنداني فعال نه ول له اکبرخان سره ملګري سول. ډېر ژر معلومه سوه چي د امین الله خان او د فتح جنګ قواوي به د اکبرخان او د هغه د ورسره ملګرو په مقابل کي داسي ماته وکړي چي بالاحصار به په بشپړه توګه د اکبرخان لاسته ولوېږي. البته یوازي د

بالاحصار حاکم موقعیت نه وو چي اکبرخان ته یې پر خپلو رقیبانو باندي برلاسی ورکاوه بلکه له هغه سره د فتح جنګ ټولي خزانې هم د اکبرخان لاسته ورتللې. فتح جنګ بله لاره نه درلوده او د جنرال سېل د قواوو پخواني سیاسي آمر میګریګور ته یې ولیکل چي د ده قواوي د اکبرخان په مقابل کي د مقاومت توان نه لري او که انګلیسیان د ده او د ده د کورنی لپاره، چي پلار یې لا د هغوی خدمتګاروو، ژر را ونه رسیږي نو بالاحصار او د کابل ټول ښار به د هغوی د دښمنانو لاسته ولویږي. کې ص ص ۵۳۲-۳۵

فتح جنګ، له دې ویري چي هسي نه بالاحصار د مخالفینو لاسته ونه لویږي او هر څه به یې له لاسه ووزي، د بالاحصار دروازې وتړلې او بیا قلا بند سو. محمداکبرخان چي د مې د میاشتي پر نهمه کابل ته رسېدلی وو، پر دوولسمه یې درې سیدان بالاحصار ته ولېږل او د اکبرخان له خوا یې په قرآن سوګندونه ورته یاد کړل. فتح جنګ هغوی ته یو شمېر قرآنونه وښودل چي بې شمېره مهرونه پکښي لګېدلي او ټول قولونه مات سوي وه. هغه ورته وویل چي که په دغو یادو سویو سوګندونو عمل نه وي سوی نو په نورو سوګندونو به څرنګه باور وکړي. سیدان بې جوابه سول او له بالاحصار څخه ناکام روان سول. وروسته محمدشاه خان بالاحصار ته ورغی او فتح جنګ ته یې وویل چي پاچهي به دده وي، محمداکبرخان به وزیر وي او امین الله خان به د هغه مرستیال وي. دوی به په ګډه پوځ جوړوي او له پاچا سره به یوځای د جلال آباد پر لور روانیږي. وروسته نو د بارکزیو سره جنګ په مخ کي دی. دا اختیار به د فتح جنګ وي چي کومه لاره خوښوي. په کابل کي پاتیږي او که له خپلو خزانو او کورنی سره بلې خواته ځي. فتح جنګ، چي په ځان کي یې د مقاومت توان نه لیدی، د محمدشاه خان پیشنهادونه ومنل او یو ځل بیا یې له انګرېزانو څخه وغوښتل چي کابل ته ورسي او دی او بالاحصار وژغوري. محمدزمان خان په دې جوړه خوشاله نه وو ځکه چي له ده سره په دې روغه جوړه کي سلامشوره نه وه سوې.کې ص ص ۵۴۳-۴۴

اکبر خان د مې پر نهمه، په داسي حال کي کابل ته ورسېدی چي د مشرانو ترمنځ د اختلافاتو له امله کابل وران ویجاړ او له خلکو څخه د ژوند لوری ورک وو. هغه د خپلي معمولي انرژۍ او عسکري طاقت په زور سمدستي د سدوزیو قواوي په خپله قلا کي محاصره کړي او د بالاحصار تر برجونو لاندي یې لوی او قوي ماینونه کښېښودل. یو ځل بیایي خلکو ته ځان د اسلام مدافع معرفي کړ او وې ویل چي سدوزیان د کافرانو ملګري دي. ده مشرانو ته ولیکل چي د ده اصلي هدف د کافرانو سره غزا ده او که څوک د اسلام دفاع کوي نو باید چي د ده تر بیرغ لاندي راغونډ سي. په یوه هفته کي یې امین الله خان د رشوت په زور د سدوزیو له کمپ څخه بېل کړ. یوه هفته وروسته یې میرحاجي، د کابل علما او کوهستانیان د ځان ملګري کړل. اکبرخان دغه راز د هندي عسکرو له هغو پیاده او توپچي قواوو څخه، چي د انګلیسیانو د وتلو په وخت کي له افغانانو سره ملګري سوي ول، یو کنډک جوړ کړ او د هغوی له عسکري مهارتونو څخه یې ښه کار واخیست. د اکبرخان پوځي قوه دوولس زرو تنو ته رسېدله او د فتح جنګ ټوله قوه ایله څلور زره تنه وه. یوه میاشت یې هم د بالاحصار له برجونو سره سورونګان یا ماینونه واولوزل، هم یې پرله پسې د توپچي حملې ورباندي وکړې او د جون پر نهمه یې فتح جنګ تسلیمېدلو ته مجبور کړ. ډال ریمپل ص ۳۹۱

په بالاحصار کي د فتح جنګ هندوستاني او عربو جنګیالیو نور د مخالفو سردارانو سره د جنګ توان نه درلود او فتح جنګ ته یې خواست وکړ چي له اکبرخان سره جوړه وکړي او دې جنګ ته، چي د دوی د ښځو او ماشومانو ژوند یې په خطر کي اچولی دی، خاتمه ورکړي. فتح جنګ هم له اکبرخان سره روغي ته حاضر سو. اکبرخان په بالاحصار

کي ځای ونيوی او فتح جنګ ته يې وويل چې تر څو يې له زمان خان سره حساب په بشپړه توګه حل کړی نه وي کرار نه کښېني. له بالاحصار څخه دباندي، د محمدزمان خان او د هغه د روحاني ملګري ميرحاجي پيروانو پوښتنه کوله چي هغه سدوزی پاچا ولي پر تخت ناست دی چي د انګرېزانو دوست دی او ملت يې نه غواړي او خلکو پخوا لا محمدزمان خان خپل پاچا اعلان کړی دی. که څه هم چي کوهستانيانو د اکبر ملاتړ کاوه خو په دې وخت کي قزلباشو د اکبرخان له ملاتړ څخه لاس واخيست او د انګليسيانو سره د ملګرتوب خبري يې کولې. نواب زمان خان خو دعا کوله چي هرڅونه ژر جنرال پالک کابل ته ورسيږي؛ اکبر خان له کابل څخه تښتېدلو ته اړ کړي او د يوه لوی داخلي جنګ مخه ونيوله سي. د جون پر يوويشتمه د دواړو خواوو ترمنځ يوه سخته نښته وسوه. جنګ درې ساعته دوام وکړ. نواب زمان خان بشپړه ماته وکړه؛ دی او زامن يې ونيول سول. کور يې چور سو او د جنګ مشران يې ګرفتار سول او تر ممکنه حده پوري سپک وضعيت ورسره وسو.دا بری د فتح جنګ د هغي خزانې په زور ترلاسه سوی وو چي مخکي د اکبرخان لاسته ورغلې وه. نواب زمان خان وروسته پوه سو چي د ده ملګرو پيسې اخيستي وې او دی يې تباه کړی وو. هغه ته معلومه سوه چي د ده ملګري سردار محمدعثمان خان زرطلاوي او روحاني مشر ميرحاجي څلورزره طلاوي اخيستي وې او د ده خپل ورور محمددوست د جنګ په جريان کي د دښمن خوا نيولې وه. کې ص ص ۵۴۴-۴۵

نور نو فتح جنګ، تش په نامه، په بالاحصار کي پاچا وو او د چارو ټولي واګي د اکبرخان په لاس کي وې. اکبرخان د خزانې اختيار واخيست؛ د بالاحصار هغه هندوستاني عسکر يې پسي واخيستل چي د فتح جنګ په خدمت کي وه او خپل طرفدار او وفادار عسکر يې په کار وګومارل.

انګليسي بنديان، چي پخوا د نواب زمان خان په کور کي وه او هغه ډېر ښه نازول، د خلکو د زيات فشار او زور په وجه د روحاني مشر ميرحاجي کورته انتقال سوي ول. اکبرخان څو څو ځله د ميرحاجي کور ته ورغی او د بنديانو غوښتنه يې ورڅخه وکړه. خو ميرحاجي د هغه غوښتنه نه وه منلې. بالاخره اکبرخان له پيسو څخه کار واخيست. د ميرحاجي د پيسو شوق او حرص په کابل کي مشهور وو او هغه، د څلور زره روپيو رشوت په بدل کي، اکبرخان ته د بنديانو سپارلو ته حاضر سو. هغه کتاب ص ص ۵۴۶-۴۷

بنديان، له انګليسيانو سره د مذاکراتو د پيل کولو او له هغوی څخه د امتياز اخيستلو په منظور، د اکبرخان لپاره ډېره ښه وسيله وه. اکبرخان له جنرال پالک سره تماس ټينګ کړ. د جولای پر لسمه يې کپتان ټروپ، د حاجی بختيار په ملګرتوب، جنرال پالک ته واستاوه او د بنديانو د خوشي کولو په باب يې د خبرو غوښتنه ورڅخه وکړه. جنرال پالک نور د بنديانو له خوشي کېدلو او د هغوی په باب له خبرو سره دونه علاقه نه درلوده لکه د کابل د نيولو او پر بالاحصار باندي د انګليسيانو د بيرغ له رپولو سره چي يې درلوده. پالک اکبرخان ته احوال ورکړ چي ټول بنديان بايد خوشي کړي او د انګليسانو توپونه او غنميت کړي مالونه بايد وروسپاري. پالک په مقابل کي د هيڅ امتياز ورکولو يادونه نه وه کړې. دا وخت پالک هم د پوځي عملياتو لپاره کافي قوت په لاس کي درلود او هم له کابل څخه ځينو مشرانو هغه ته اطمينان ورکړی وو چي اکبرخان ته به اجازه ورنه کړي چي د انګليسيانو بنديان ترکستان ته يوسي. کله چي کپتان ټروپ اکبرخان ته د جنرال پالک پيغام ورساوه نو اکبرخان په جواب کي ورته وويل چي جنرال پالک بايد ده ته ليکلی جواب ورکړي. ضمنا يې له ميجر پوټينجر او کپتان ټروپ څخه وپوښتل چي د جنرال پالک سره څه

سلوک وکړي. میجرپوټینجر ورته وویل چې ستا لپاره تر ټولو غوره لاره دا ده چې بندیان جلال آباد ته واستوې او په دې توګه خپل ریښتین والی ثابت کړې. د بندیانو لیږل چې هر څومره ځنډیږي هغه د سردار په تاوان ده ځکه چې جنرال پالک به پر کابل باندې حمله وکړي. اکبرخان ورته وویل چې که جنرال پالک هغه ته لیکلی سند ورنه کړي چې د بندیانو له خوشې کېدلو سره به خپل پوځونه د افغانستان له خاورې څخه باسې نو هغه به بندیان سره بېل کړي او ټول به له جلا جلا ترکستان ته ولېږي او د پالک له پوځونو سره به مقابله پیل کړي. البته پوټینجر پوهېدی چې پر پالک باندې دا تهدیدونه اغېزه نه لري. هغه کتاب ص ص ۵۶۴ ـ ۶۵

موهن لال، چې زه یقین لرم، انګرېزانو ته د خپلې ژورې وفادارۍ او له افغانانو څخه د کرکې له امله یې، په خپلو خاطراتو کې کله کله له تعصب څخه کار اخیستی دی او له بندیانو، په تېره بیا له خپل ځان سره یې د ډېر بد سلوک په باره کې شکایتونه کړي دي لیکي چې سردارمحمداکبرخان زه څو ځله ماښامنی ته وبللم او کابل ته د جنرال پالک د پوځونو د نیژدې کېدلو په وخت کې یې زما سره سلا کوله چې هغه ته به زما مشوره څه وي. ځکه چې انګلیسان، که څه هم ښې او زورورې وسلې لري، خو ده ته د وسلو په زور هغومره ماته نه سې ورکولای لکه د پیسو د شیندلو په زور چې به د ده دوستان ورڅخه رانیسي او ماته به ورکړي. ما ورته وویل چې که څه هم چې هغه ته به زما مشوره یو اړخیزه ښکاري خو زما مشوره به دا وي چې خپل ځان لکه خپل پلار انګرېزانو ته تسلیم کړي او هغه به ښه سلوک ورسره وکړي. اکبرخان، چې په تاریخ او هر څه ډېر خبر ښکارېدی ماته وویل چې له ناپولیون سره د انګلیسیانو له سلوک څخه سړی قضاوت کولای سي چې د انګلیسیانو په قول باور کول نه دی په کار. هغوی نن یو څه وایی سبا بل څه کوي. نن قول کوي او سبا یې بیرته ماتوي. ځکه نو دی د انګلیسیانو په قولونو اعتبار نه سي کولای او جنرال پالک ته تسلیمېدل نه قبولوي. موهن لال وایی زه باید دا ووایم چې حقیقت د اکبرخان پر طرف وو او هغه په خپله خبره کې پر حقه وو. ځکه چې موږ ریښتیا هم ډېرې وعدې کړې او بیرته مو ماته کړې وې او د انګلیسیانو د عزت او وقار ساتنه مو نه وه کړې او د قولونو د ماتولو د بدنامۍ ټپلې مو پر لمن پرتې وې. موهن لال دوهم جلد ص ص ۴۵۵-۵۷

دا وخت سردارمحمداکبرخان د کابل او بالاحصار ټول قدرت په لاس کې درلود. هغه په جلال آباد کې د جنرال سېل د قواو پخوانې سیاسي آمر میګریګور، چې دا وخت د جنرال پالک دستیار وو، او جنرال پالک ته د فتح جنګ لیکونه په لاس ورغلي او هغه یې د افغانستان له خپلواکۍ سره د خیانت کولو په تور په بالاحصار کې بندي کړی وو. فتح جنګ د خپلو طرفدارانو په مرسته له بالاحصار څخه وتښتېدی او ځان یې د جنرال پالک د قواوو مرکز ته، چې دا وخت ګندمک ته رسېدلي وې، ورساوه.

« د سپتمبر پر لومړۍ نېټه، چې جنرال پالک، په ګندمک کې، خپلې قواوې تنظیمولې، یو په خاورو لړلی افغان، چې څیرې جامې یې په تن وې، پر زاړه یابو سپور وو او درې تنه ملګري ورسره وه، د انګلیسیانو کمپ ته ورغی. د جنرال پالک دوه تنه افسران برن او مایین د هغه مخې ته ورغلل او چې ښه رانیژدې سو نو هغو وپېژندی چې دا فتح جنګ دی. دوی پوهېدل چې هغه ورځ دوې مخکې د کابل پاچا بلل کېدی. له دې فرارې سره په ډېره مهربانۍ سلوک وسواو د جنرال خېمې ته رهنمایی سو. او د ده په احترام د توپ ډزې وسوې. د انګلیسیانو په کمپ کې هغه ته ټول هغه وسایل چې د یوه پاچا له شان سره ښایي برابر سول.

فتح جنګ یو څه وخت د کابل په دربار کې یو بدبخته ګوډاګی شهزاده وو. هغه تش په نامه پاچا وو او سړی یې یوازې د پاچا سیوری بللای سي چي فقط د پاچا نوم ورباندي یادېدی. اکبرخان دغه بې مغزه او کمزوری پاچا په خپل واک کې اخیستی وو او هره ورځ یې کنټرول ورباندي زیاتاوه او په زور به یې له خپلي خوښي سره سم فرمانونه او مکتوبونه ورباندي لاسلیکول...» کې ص ۵۷۱

د سپتمبر پر یوولسمه د جنرال پالک قواوې د جګدلک سیمي ته ورسېدې. اکبرخان، له وعدې سره سم، خپل بندیان هندوکش ته لېږلي وه او د انګلیسیانو له پوځ سره یې مقابلې ته تیاری کاوه.هغه د سپتمبر پر شپږمه کپټان ټروپ خپل کمپ ته وباله. کله چي هغه د سردار کمپ ته ورسېدی نو وې لیدل چي هغه نور مهم مشران له نواب محمدزمان خان، جبارخان، امین الله خان او محمدشاه خان او نور مشران راغونډ کړي ول او سلامشورې یې ورسره کولې. سردار له ټروپ څخه وغوښتل چي ګندمک ته ورسي او له پالک سره خبري وکړي. مشرانو ویل چي که پالک د کابل پر لور حرکت ونه کړي نو دوی د هغه هر ډول شرایطو منلو ته تیار دي. ټروپ هغوی ته وویل چي اوس هیڅوک نه سي کولای چي د جنرال پالک فیصله بدله کړي او د ده ماموریت ګټه نه کوي. اکبرخان، د پالک د پوځونو سره د مقابلې لپاره، د خپلو پوځونو سره د بتخاک پر لور حرکت وکړ او د سپتمبر پر یوولسمه یې کپټان ټروپ او بایګریو خپل کمپ ته وبلل او هغوی ته یې وویل چي ده نه غوښتل چي له انګلیسي پوځونو سره جګړه وکړي مګر اوس پر شا کېدلای نه سي. انګلیسي افسرانو هغه ته وویل چي دا جنګ بایلي او ډېر زیات تلفات به ورسیږي. اکبرخان ورته وویل چي زه په هر څه پوهېږم. مګر اوس د جنګ سرنوشت په خدای پوري اړه لري او نور ورته مهمه نه ده چي بری د چا په برخه کیږي. هغه کتاب ص ص ۵۷۶-۷۷

دواړي قواوې د سپتمبر پر دیارلسمه په تیزین کې سره مخامخ سوې او، تر څو سختو جګړو وروسته، د افغانانو قواوو ماته وکړه. اکبرخان د غوربند خواته ولاړ او انګلیس بای ګریو یې ورسره واخیست. کپټان ټروپ د نورو انګلیسي بندیانو سره په علی محمدقلا کې یو ځای سو. په دې توګه د انګلیسیانو د عصري وسلو او توپونو او منظمو پوځونو په مقابل کې د افغانانو د مقاومت وروستی سنګر، له تقریبا دوو کالو مقاومت څخه وروسته، مات سو.

## انتقامي عملیات:

که څه هم چي د جنرال پالک او جنرال سېل پوځونو د سپتمر پر دیارلسمه د اکبرخان سره له جګړې او د اکبرخان له ماتې مخکې انتقامي عملیات پیل کړي وه خو له هغه څخه وروسته یې داسي عملیات وکړل چي وچ او لانده یې ګډ وسوځول او بېګناه ملکي کسانو ته، د بل هر وخت په څېر، تر بل هر چا زیات تاوان ورسېدی.

سرجان کې لیکي چي ګورنرجنرال څو ځله جنرال پالک ته کنایتاً لیکلي وه چي کوم چاته په کوم ځای کې یوه ضربه ورکړي. جنرال پالک هم ډګرمن مونټیت د شینوارو کلیو ته واستاوه او هغه ته یې وظیفه ورکړه چي شینوارو ته یو درس ورکړي. مونټیت د جون د میاشتي په نیمایی کې د علی بوغان په نوم کلي باندي حمله وکړه. کورونه یې وروسوځول او خلک یې چور کړل. مونټیت د جون پر شلمه د ګولای په نوم کلي باندي حمله وکړه. د کلي خلک د پوځونو د رسېدلو څخه مخکې تښتېدلي وه او مونټیت د هغوی قلاوې او کورونه تباه کړل او دیوالونه یې ور والوزول. د هغوی د توتو او ولو ښایستي ونې یې داسي ورته

ووهلي چي ټولي وچي سولې. مونټيت د شينوارو په وادي کې نور هم مخته ولاړ. د هغوی قلاوو ته يې اورونه واچول او اوسېدونکي يې په قلاوو کي دننه وويشتل. يو ځل يې په دغه وادي کې پنځه دېرش قلاوي وسوځولې. کې ص ص ۵۶۰- ۶۳

کرنل ټېلر د شينوارو د ماماخېلو پر کليو باندي د آګسټ پر ديرويشتمه حمله وکړه. مشران او ځيني کسان يې کابل ته تښتېدلي ول . ماماخېل او کوچي خېل کلي يې تباه کړل او د مېوو وني يې ورته اره کړې. هغه کتاب ص ۵۶۸

کله چي د جنرال ناټ قواوو له کندهار څخه د کابل پر لور حرکت وکړ نو ځای پر ځای له مقاومتونو سره مخامخ کېدل. په دې ضمن کي د مقر په سيمه کي د اوبه په نوم يوه کلي کي دوو تنو د دوی پر عسکرو باندي ډزي وکړې. جنرال ناټ خپلو عسکرو ته د کلي د لوټ او تالان امر وکړ. له ښځو او ماشومانو سره چا غرض ونه کړ مګر نارينه ټول ووژل سول. تقريبا سل تنه کليوال د څو تنو په ګناه قتل عام سول. هغه کتاب ص ۶۰۰

د فتح جنګ لپاره ټاکل سوي وزير غلام محمدخان او د قزلباشو مشر خان شيرين خان جنرال پالک ته وليکل چي د کندهار قواوو د سپتمبر پر شلمه د اوشار او چهارده خلک چور کړل او خلکو ته يې د سر اومال زيان ورساوه. په ده دانا کي دوه تنه او په چهارده کي دوه تنه وژل سوي دي. د اوشار خلک موږ ستاسي د بنديانو د راخوشي کولو لپاره استخدام کړي دي. که د دوی کورنه لوټ سي او که د دوی کسان قتل سي نو دوی به پر موږ باندي باور ونه کړي. که ستاسي دا نيت وي چي د خلکو امنيت خوندي سي نو دې خلکو ته بايد تاوان ورکړه سي او له دوی سره ژمنه وسي چي که خپلو کورونو ته ستنيږي نو سر اومال به يې خوندي وي. موږ په دې خوشاله يو چي تاسي نه غواړی چي پوځيان دغه راز اعمال وکړي. نن ورځ، چي د سپتمبر يوويشتمه ده، هغو پوځيانو چي د ميرحاجي د قلا د ورانولو وظيفه ورکړه سوې وه د هغه په ګاونډ کي د نورو خلکو کورونه هم تباه کړي دي. دې خلکو ته بايد تاوان ورکړه سي. که انګليسيان خلکو ته د رسېدلي زيان تاوان ورنه کړي نو خلک به له خپلو کورونو څخه وتښتي او نور به په موږ اعتماد ونه کړي. دغه ګړی موږ ته خبر را ورسېدی چي د کندهار قواوو په الله آباد کي، چي په موږ اړه لري او زموږ کورنی پکښې ميشتي دي، مرکز نيولی دی . دې قواوو زموږ غلي داني او مېوې چور کړي دي. که تاسي له دوستانو سره داسي سلوک وکړی نو دښمنان به مو څه انتظار درڅخه ولري. هغه خلک چي خپلو کورونو ته ستانه سوي ول بيرته تښتي. دې خلکو ته بايد ژر تر ژره تاوان ورکړه سي او د هغوی د ساتني لپاره بايد قواوي وګومارل سي. کې ص ص ۶۲۸-۶۳۰

البته پخپله د پالک پوځيان هم تر جنرال ناټ په کمه نه وه او هغه جنايتونه چي يې د شينوارو په کليو کي کړي وه په شمالي او کابل کي يې تکرار کړل. د پالک پوځونو د شمالي او استالف په سيمو کي داسي جنايتونه وکړل چي د دوی خپل افسران يې په يادولو او ليکلو شرميږي. دوی وايي چي په شمالي کي يې په زيرزمينيو کي پنځه سوه هندي نيول سوي عسکر په ځنځيرونو تړلي وليدل نو له ډېره قهره يې خلک ژوندي وسوځول. ښځې يې عسکرو ته وسپارلې او هغوی په شېرخط سره وېشلې.

د نيوېل چمبرلين سپاره عسکر استالف ته داسي وخت ورسېدل چي کار له کاره تېر وو. ده وليکل چي دا صحنه د ليدلو او بيانولو نه وه. خېمې، جامې او هر څه د انسانانو له مړو سره په لارو کوڅو کي پراته وه. دی وايي دې ته به ضرورت نه وي چي ووايم چي تر څوارلسو کالو پورته هيڅ نارينه ژوندی نه وو پاته. ځيني چي زخميان سوي ول نو په دوهمه مرمۍ يې کار ور تمام کړی وو. ځينو وحشيانو خو خپل قار او غوسه په ښځو سره کړې وه. د کابل مشرانو او خانانو چي زموږ د پوځونو د نيژدې کېدلو اورېدلي وه نو خپل مالونه يې د خوندي کولو لپاره استالف ته وړي وه او ټول استالف د ښو مالونو ډک وو. عسکروکورونه ټول چورکړي وه او اروپاييانو او هنديانو ټولو برخه پکښې اخيستې وه. کله چي عسکر له چور او تالان څخه فارغ سوي ول نو بيا خدمه او غريب کار پر کورونو ورغلي ول او د عسکرو د چور او تالان کار يې بشپړ کړی وو. کری ورځ د ښار په سوځولو او د مالونو په چورولو تېره سوې وه. په لارو کوڅو کي د زړو، ځوانانو، غريبانو او شته منو مړي

پراته وه. کله چې موږ له استالف څخه را وتلو نو یوه زړه ډنګره ښځه مې ولیده چې له یوې کوچنۍ ویالې څخه یې اوبه اخیستلې. مایې لوښي ته اوبه ور واچولې او هغې پر ټولو فرنګیانو باندې لعنتونه ویل. کورته په داسې حال کې ولاړم چې له ځانه، له جهانه او له خپل ظالم مسلک څخه مې بدراغلل. موږ بل هیڅ شی نه وو بلکه جواز لرونکي قاتلان وو. ډال ریمپل ص ص ۴۰۸-۴۰۵

د برتانیې یو جنرال د استالف له تباه کېدلو څخه وروسته د کابل او جلال آباد د تباه کېدلو او سوځل کېدلو په باب لیکي: « جنرال پالک د استالف د تباه کولو او قتل عاملو څخه وروسته کابل ته د خپلو ګناهونو د سزاورکولو امر وکړ. لومړی یې هغه جومات وران کړ چې اکبرخان د الفونسټون د قواوو د تباه کېدلو په ویاړ جوړ کړی وو او خلکو فرنګي جومات باله. وروسته یې نو بازارونه په ماینونو او توپونو وران کړل، د مشرانو او خانانو کورونه یې وسوځول، د ښار ټولې دروازې یې تباه کړې. په پای کې یې د ښار ودانیو ته اور واچاوه او لمبې تر هغه ځایه پورې ولاړې چې د کابل سیند یې مخ را وګرځاوه. سره له هغه چې د چور او تالان د مخنیوي لپاره محافظین درول سوي وه مګر د کمپ سره ملګري غریب کاران او خدمه په ښار ننوتل او چې څه یې لاسته ورتلل هغه یې غنمیت کړل. دلته هلته داسې پیښې منځته راغلې چې د پوځ د انضباط له برکته پنځوس چنده نه سوې. د کابل د تباه کولو کار د اکتوبر پر اوومه پیل سو. په سبا ورځ او سبا شپه یې دوام وکړ. دوې شپې د کابل د ښار لمبې اسمان ته پورته کېدلې او د اسمان مخ یې سور کړی وو. د جنرال سېل عسکر تر ډېره وخته په کابل کې پاته نه سول او د اکتوبر پر دوولسمه یې د هندوستان پر لور حرکت پیل کړ... وروسته یې جلال آباد هم د کابل او غزني په څېر داسې وسوځاوه چې له خاورو سره یې برابر کړ.

په دې توګه هغه جنګ پای ته ورسېدی چې د هیڅ معقول دلیل په اساس پیل سوی نه وو او د تلوار او وېرې د یوه عجیب ترکیب په اساس پرمخ وړل سوی وو. او له سختو تاوانونو د زغملو او فاجعې د لیدلو څخه په داسې ډول پای ته ورسېدی چې نه یې هغه حکومت ته چې پیل کړی یې وو او نه یې هغو عسکرو ته چې دا جنګ یې وکړ افتخار په برخه کړ» کلیګ ص ص ۱۸۰-۱۸۱

کله چې د شاه شجاع زوی فتح جنګ له افغانستان څخه د انګلیسانو د پوځیانو د وتلو په برخه کې متیقین سو نو له پاچهي څخه یې لاس واخیست او د جنرال پالک کمپ ته ورغی. جنرال هم د ده پر ځای د شاه شجاع کشر زوی شاه پور پر تخت کښېناوه او د مختارالدوله شیرمحمدخان بامیزایي زوی غلام محمد خان یې د وزیر په توګه ورته وټاکی.

غلام محمدخان بامیزایي او د قزلباشو مشرخان شیرین خان، د کابل د ټولو مشرانو په استازیتوب، جنرال پالک ته یوه عریضه ولیکله:

« تاسې ته دې معلومه وي چې موږ پوپلزیان او د درانیانو نور قبایل او قزلباش د باکرزایانو تر سلطې لاندې ژوند نه سو کولای. نو کله چې دغه کار په هیڅ توګه ممکن نه دی او پر دې برسېره اعلیحضرت فتح جنګ هم له هیواده څخه د وتلو فیصله کړې ده نو موږ موافقه لرو چې شهزاده شاه پور د خپل پاچا په حیث قبول کړو او د هغه اوامرو ته غاړه کښېږدو. مګر موږ هیله لرو چې تاسې به نور د قلاګانو او د خلکو د جایدادونو او شته منیو له تباه کولو څخه لاس واخلی څو خلک اعتماد پیدا کړي او خپلو کورونو ته ستانه سي. او موږ دغه راز هیله لرو چې تاسې به میرصوفي بیاني، چې همدااوس په چاریکار کې بندي دی، خوشې کړی او موږ ته به یې وسپاری. او که تاسې موږ ته توپونه او مهمات راکړی دا به ستاسې لویه مرسته وي. تر څو چې موږ ژوندي یو موږ به د برتانیې له حکومت سره د دوستۍ آرزو لرو»

دواړه مشران جنرال پالک ته د دې دپاره ورغلل چې د مرستو د ترلاسه کولو لپاره وروستۍ غوښتنې ورته وړاندې کړي. دوی له جنرال پالک څخه وغوښتل چې یو څه عسکر په کابل کې پرېږدي. هغه یې دا غوښتنه ونه منله. دوی وروسته د پیسو غوښتنه وکړه، هغه هم رد سوه. وروسته نو دوی له پالک څخه وغوښتل چې لږترلږه بالاحصار تباه نه کړي. ځکه چې دا د شاه پور لپاره د پاچهۍ نښه ده او دغه راز هلته هندي او عرب عسکر اوسېږي؛ که دوی هغه تباه کړي نو بیا هغوی د اوسېدلو ځای نه

لړي. پالک ورسره ومنله او د اکتوبر پر نهمه یې سرانجنییر ابټ را وغوښت او د کابل د بازار د ورانولو وظیفه یې وروسپارله. پر هغه باندې یې ټینګار وکړ چې ودانیو ته اور وانه چوي او حتی له باروتو څخه کار وانه خلي. څرنګه چې ودانې ډیرې لویې او قوي جوړې سوي وې نو ابټ مجبور سو چې د هغو د ورانولو لپاره له باروتو څخه کارواخلي. وروسته عسکرو ځینو ودانیو ته اور واچاوه او ښار اور واخیستی. عسکرو او د پوځ سره ملګرو غریب کارو چې دا حال ولیدی نو یو وار پر ښار باندې رامات سول او په چور او تالان یې پیل وکړ. حالات د پوځ تر کنټرولر ووتل او تباهي او چور دوې ورځې روان وو.

دا چې تېرى او افراط به سوی وي، په دې کې څوک څه نه سي ویلای. بېګناه او ګناهکار، ټول یو شان، د غچ اخیستلو د حملو، چې په ښار کې پیل سوي وې، قرباني سول.ډېر بې آزاره هندوان، چې د کرارى په ظاهري وضع تېر وتلي او د حکومت د بیرته ټینګېدلو په هیله یې خپل کارو بار پیل کړی وو ټول تباه سول. دوست اودښمن یو شان وهل کېدل او د هیچا آواز نه اورېده کېدی. چنداول، چې د قزلباشو دوستانو ځای وو، په مټې له تباهی څخه وژغورل سو. د کابل د اشغال په وخت کې د دې دریو ورځو پرتباهی باندې باید هر وخت ارمان وکړو او پر دې خبرې باید افسوس وکړو چې بشر څومره کمزورى او څومره ظالم دی. مګر کله چې دا را په زړه کړو چې زموږ ملګري پوځیان څرنګه په دې ښار کې قصابي سول او عسکر هغه ګناه کار ښار ته ننوتلي وي نو بیا سړی ویلای سي چې په داسې حالاتو کې ځان کنټرولول هم زور غواړي. بدبخته هندوان چې د غزني او کابل په تباهیو کې یې هر څه له لاسه ورکړي وه، له پوځ سره تر هندوستانه پورې ملګري سول او په ډېر بد حالت کې یې ځانونه تر مزله ورسول.

دې هندوانو، چې تر څو ورځو مخکې پورې شته من وه، د پالک په کمپ کې په فقر او ګدایی ګوزاره کوله. دا هندوان لړ ترلړه ترهغو هندوانو خوشبخته وه چې د جنرال ناټ کمپ ته ورغلي وه ځکه چې هغه ټول له کمپ څخه وشړل. کې ص ص ۶۳۷-۶۴۰

انګلیسی مورخ سرجان کې د افغان او انګلیس د جنګ په باب خپل کتاب په داسې کلماتو پای ته رسوي چې د یوه انګلیس مورخ له قوله په لوستلو او اورېدلو ارزي « ... که موږ له خپل ولایت څخه د دوست محمد د بې برخې کولو اوایستلو پر ځای هغه ته یو څه پیسې ورکړې وای چې پوځ په جوړ کړي او یو څه افسران مو ورکړي وای چې پوځیان یې ورته روزي نو ایرانیان به نن ورځ د هرات له دېوالونو سره نه وای ولاړ. موږ د دې پرځای چې افغانان تقویه کړو هغوی مو کمزوري کړل. د دې پرځای چې موږ افغانان خپل دوستان کړو له هغوی څخه مو خپل سرسخته دښمنان جوړ کړل. هغه پالیسي چې موږ تعقیب کړه هغه ځکه تباه کونکې وه چې غیرعادلانه وه. دا په پرنسیپ او عمل کې د ناحقه تېري او غصب پالیسي وه او د پیل څخه د خدای لعنت باندې ویل کېدی. په پیل کې زموږ برى پخپله د دغه لعنت یوه برخه وه. دوی موږ په لومړي سر کې په غېږ کې ونیولو او د دروغو امنیت یې را وښود او په دې توګه یې د سقوط کندې ته ورپورې وهلو. موږ باید د افغانستان له دغه جنګ څخه د خپلو راتلونکو اقداماتو لپاره یو لوی درس زده کړو او پند ورڅخه واخلو. بیا به نو هغه خدای چې چاته د هر عمل جزا ورکوي موږ ته هم عوض راکړي. » کې ص ۶۷۰

انګرېز صاحب منصب وینسنټ آیرې، چې پخپله یې په دغه جنګ کې برخه درلوده، او د دې جنګ د خاطراتو په باره کې یې یو کتاب لیکلی دی، په مقدمه کې د افغانانو د استقلال دوستی په باب یوه په زړه پورې تاریخي کیسه لیکي، چې دلته په راوړلو ارزي. آیرې لیکي کله چې غلجې د ایران د نادرشاه افشار د ظلمونو او ستم له لاسه غرونو ته وختل او هلته یې څو میاشتې په واورو کې تېرې کړې چې د خوړلو لپاره د وښو له ریښو څخه پرته بل هیڅ شی نه پیدا کېدل. نو د ژمي په پای کې یې دهغو وښو ریښې نادرشاه ته ولېږلې او ورته وې ویل چې تر څو پورې زموږ په غرونو کې دا ریښې پیدا کیږي موږ به ستا له ظلم او ستم سره جګړې ته دوام ورکړو.

# بندیان او له هغوی سره د افغانانو سلوک:

مکناټن د ډسمبر پر درویشتمه ووژل سو او د انګلیسیانو قواوو له کابل څخه د ۱۸۴۲ کال د جنوري پر شپږمه، یعني د هغه له قتلېدلو څخه تقریبا دوې هفتې وروسته، له کابل څخه د جلال آباد پر لور حرکت وکړ. دا قوه، لکه څرنګه چي انتظار یې ایستل کېدی، په لاره کي ټوله تباه سوه او یوازي ډاکټربرایډن د جنوري پر دیارلسمه، یعني د قواوو د حرکت څخه یوه هفته وروسته نیم ژواندی جلال آباد ته ورسېدی. که له دې قوې سره هغه ټول خانان اوقومي مشران چي لېدي سېل یې نومونه یاد کړي دي ملګري سوي وای ښایی دا تباهي منځته نه وای راغلې. څرنګه چي له دې قوې سره یوازي اکبرخان ملګری وو او هغه د حمله کوونکو غازیانو، په تېره بیا غلجیو، چي د اکبرخان خبري چنداني اغېزه هم نه وربانديِ کوله، مخه نه سوای نیولای. په لاره کي ځیني صاحب منصبان، ښځي او ماشومان اکبرخان ته تسلیم سول او هغوی ټول سلامت پاته سول.

که په اوسني وخت کي، د جنګي بندیانو د ساتلو او له هغوی سره د سلوک په برخه کي، د هغو هیوادونو سلوک ته وګورو چي د ملګرو ملتونو او د بشر د حقوقو د بین المللی موسسي د قوانینو بنسټ یې ایښی دی نو د نونسمي پېړۍ په نیمایي کي د یوه دښمن یرغلګر هیواد له بندیانو سره د افغانانو سلوک بې ساري دی.

ځیني هغه بندیان وه چي د مکناټن له وژل کېدلو څخه وروسته د نواب محمدزمان خان تر کوره رسېدلي او ځیني هغه بندیان وه چي له کابل څخه د انګلیسي پوځ د وتلو په ترڅ کي اکبرخان ته تسلیم سوي وه. سرجان کي د لومړۍ ډلي بندیانو په باره کي لیکي: « د شاه شجاع له وژل کېدلو څخه دوې ورځي وروسته، د کابل خلکو له محمدزمان خان څخه وغوښتل چي بندیان دي روحاني مشر میرحاجي ته تسلیم کړي. محمدزمان خان د ډېر ښه زړه خاوند وو او له بندیانو سره یې داسي سلوک کاوه چي تر دغه اضافه یې خپل پلار له اولاد سره نه سي کولای. هغه خلکو ته زارۍ وکړې او په ژړا یې ورته وویل چي دا بندیان باید له ده څخه جلا نه سي او دی حاضر دی چي په عوض کي د خپلي کورنۍ غړي د کابل خلکو ته وسپاري. ده چي هر څه زارۍ وکړې پر خلکو یې اغېزه ونه کړه. ده بالاخره هغوی ته وویل چي د افغانانو مشر او د ده خپله خور د انګلیسیانو په لاس کي بندي ده. که دی دغه بندیان د کابل خلکو ته وسپاري نو د هغوی مشر او د ده خور ته به تاوان پېښ سي. د کابل خلکو ورته وویل دوی پوهیږي چي انګلیسیان له خپلو بندیانو سره بد سلوک نه کوي. د محمدزمان خان ټولي زارۍ بې ګټي سوې او هغه مجبور سو چي خپل بندیان میرحاجي ته وسپاري. خو پر هغه باندي یې په ډېر ټینګار او زاریو سپارښتنه وکړه چي د ده له بندیانو سره به ښه سلوک کوي. کله چي بله هیڅ لاره پاته نه سوه نو نواب محمدزمان خان د خپل کور ښځي د میرحاجي کورته واستولې څو د بندیانو سره هیڅوک بد سلوک ونه کړای سي. محمدزمان خان په دې پوهېدی چي که څوک بندیانو ته د آزار رسولو خیال ولري نو د ده د ښځو د وجود له امله به هیڅوک زړه ونه کړای سي. کي ص ۵۴۷

سرجان کي د اکبرخان سره د انګلیسي بندیانو په باره کي لیکي: « د کابل څخه تقریبا درې میله لیري، د لوګر د سیند پر غاړه د قزلباشو د یوه مشر علي محمد قلا وه. اکبرخان خپل بندیان دغي قلا ته ولېږل او علي محمدیې مجبور کړ چي خپلي ښځي او ماشومان کوم بل ځېرته بوزي. په دې قلا کي بندیان په هغو اتاقونو کي چي مخکي د علي محمد د کورمېرمني او ماشومان پکښي اوسېدل، ځای پر ځای سول. دا تر ټولو هغو ځایونو پراخ او بهتر وو چي بندیانو ته

تر دغه وخته برابر سوی وو. بندیانو د علي محمدپه قلا کي نسبي آزادي ترلاسه کړه. دوی یو لوی باغ درلود چي په هغه کي یې خپل بدني تمرینات او سپورټونه کول. دوی  هم د قدم وهلو لپاره پراخه ساحه درلوده او هم یې د باغ له مېوو څخه ګټه اخیستله. دوی کولای سوای چي په رود کي ولامبي او غسلونه وکړي. دوی کولای سوای چي د خپلو دوستانو د لیدلو لپاره بالاحصار ته ولاړ سي او یا هغوی ورته راسي. ډېرو ته د کابل له خلکو څخه د پیسو پوروولو زمینه برابره وه. او د ډېرو داسي فیشني شیانو خریداري یې کولای سوای چي له دغه څخه مخکي یې په بدیع آباد کي نه سوای اخیستلای. دوی له جلال آباد، هندوستان او انګلیند څخه خطونه تر لاسه کول او هیڅا یې له خطونو سره غرض نه کاوه. دوی هم د فکر کولو لپاره وخت درلود او هم یې د بحث لپاره زمینه درلوده. هره ورځ له جلال آباد او له کابل څخه په یوه ډول نه یوه ډول احوالات ورته راتلل. ژوند چنداني بد نه وو او دوی د مغزي کار لپاره ډېر زیات وخت درلود او د بدن د تمرین لپاره ټوله ورځ ورفارغه وه. که یوازي د ځینو ملګرو د نارغه کېدلو ستونزه نه وای او دا چي کله کله به دوی ته احوال را رسېدی چي ښایي اکبرخان یې ترکستان واستوي نور نو هیڅ غم نه وو » هغه کتاب ص ۵۵۰

سر جان کي د همدې مخ په حاشیه کي لیکي چي دا د علي محمد لپاره ډېره د بدمرغی خبره وه چي کله انګلیسیان هغي سیمي ته ورغلل نو د ده قلا او باغ یې ټول تباه کړل.

جورج لارنس، چي د اکبرخان په بندیانو کي وو او یو ځل یې د استازي په توګه هم جنرال پالک ته لېږلی وو، خپل ورور هنری لارنس ته لیکي: « ... موږ ټول روغ جوړ یو او ډېر ښه سلوک راسره کیږي. زما له قوله خلکو ته وو‌ایه چي زموږ سره د سردار سلوک له لومړۍ ورځي تر اوسه پوري له مهربانی ډک دی. هیڅ اروپایي هیواد به د جنګ له بندیانو سره تر دې بهتر سلوک نه وای کړی. زه دا خبره په پوره زړه ورتوب کوم. په بهر کي داسي احساس موجود دی چي زموږ سره بده رویه کیږي مګر دا خبره بالکل غلطه ده. که د اکبر خبره سي نو هغه د ډېرو نورو کارونو مسوولیت لري او باید چي جواب یې ووایي. الفونسټون که په بدیع آباد کي پاته وای هم یې ژوند نه سو کولای. تیزین ته د هغه انتقال د هغه له مړیني سره هیڅ اړه نه لري. ایډوردز ص ۳۹۵

جورج راورټي، چي د پښتو ژبي او افغانانو په باب یې نه هېرېدونکي تحقیقات کړي دي د پښتو انګلیسي قاموس د مقدمي په حاشیه کي لیکي« چي د افغانانو په باره کي له حق څخه تېر نه سو نو سره له هغه چي په ۱۸۴۲ کال کي یې له کابل څخه زموږ د پوځونو د پرشا کېدلو په وخت کي د وعدې خلاف حملې راباندي وکړلې؛ خو موږ د هغوی پر هیواد باندي یرغل کړی وو او دوی هم زموږ سره د یرغلګرو په څېر سلوک وکړ او زموږ قواوي یې تباه کړې. مګر دوی چي بندیان ونیول هغه یې وساتل او د ښځو او ماشومانو یې احترام وکړ. که موږ د یوه غیرمتمدن قوم په حیث، د دوی دغه عمل په ډهلي او کانپور کي د هغو خلکو له شیطاني او وحشیانه اعمالو سره مقایسه کړو چي څه باندي سل کاله یې زموږ نمک خوړلی وو او داسي فکر کېدی چي دوی په تمدن کي پر مخ تللي دي نو بیا ګورو چي د افغانانو پله درنه ده. راورټي ډیکشنري مقدمه

لوستونکو ته دي معلومه وي چي موهن لال، د الیکزانډربرنس د وژل کېدلو له ورځي بیا تر هغه وخته پوري چي د اکبرخان په لاس کښېوت د انګرېزانو کمپ ته د کابل د ټولو حالاتو رپوټونه ورکول او د افغانانو په منځ کي د بې اتفاقیو د اچولو لپاره یې پیسي شیندلې. مګر کله چي د اکبرخان لاسته ولوېدی پخپله موهن لال وایي چي اکبرخان  څو

ځو ځله ماښامنۍ ډوډۍ ته بلنه ورکړي او حتی د خپل ژوند د ترټولو مهم تصمیم په باب یې سلا مشوره ورسره کوله. د دونه زغم او حوصلې انتظار، په یوویشتمه پیړۍ کې د کوم ډیموکراتیک هیواد او نظام څخه کېدلای سي؟ زه یقین لرم چي که د هر هیواد لاسته خپل داسي یو دښمن ورسي چي په دغه اندازه تاوان یې رسولی وي او ټول یې په جاسوسي خبر وي په شکنجو کې به یې ووژني.

دا د افغانستان د نونسمي پیړۍ د نیمایی کلونو د پېښو خبري دي. په هغه وخت کې او تر هغه وروسته پخپله انګلیسیانو په هند کې، د مهاتما ګاندي او سوباش چندربوس په سطح مخالفینو سره په بندیخانو او کمپونو کې غیرانساني سلوک کاوه. انګرېزانو خپل سرسخته سیاسي مخالفین، په تېره بیا هغه کسان چي د هغوی پر ضد به یې وسلو ته لاس کړ، د انډیمان په ټاپوګانو کې د توروراوبو په نوم بدنامو او غیرانساني بندیخانو ته لیږل او هلته یې له خطرناکو جنایتکارانو او قاتلانو سره په یوه ځای کې ساتل. له تورو اوبو څخه یوازي له هند څخه د انګرېزانو تر وتلو وروسته باقي پاته کسان ژوندي راووتل او له خپلو عزیزانو سره یو ځای سول او د وحشت او بربریت کیسې یې خپرې کړې.

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر پر یوولسمه د امریکا د نیویارک په ښار کې پر نړیوال تجارتي مرکز باندي د الوتکو د حملو په نتیجه کې امریکا پر افغانستان باندي تباه کونکي هوایي حملې پیل کړې. دا چي د افغانستان په څېر یوه کمزوري او بې دفاع هیواد سره د امریکا په څېر یوه ستر اتومي طاقت د جګړې اعلان څومره بې منطقه او څومره غیرعادلانه او ظالمانه وو، دا به تاریخ ثابته کړي او دلته زموږ د بحث موضوع نه ده؛ خو د مزارشریف په قلعه جنګي کې د څه باندي دریو زرو جنګي بندیانو قتل عام به د بشري حقوقو له کوم قانون او مقرراتو سره سر وخوري. د امریکا جمهوررییس جورج بوش د جنګي بندیانو د وژلو او شکنجه کولو په موضوع کې ځکه له هر ډول بین المللي منشور څخه معافي ترلاسه کړه چي جنګي بندیانو ته یې د دښمنو جنګیالیو نوم ورکړ او له هغوی سره یې هر ډول سلوک روا او خپل حق وباله.

له کابل څخه د انګلیسیانو د وتلو په وخت کې ټول پوځیان تباه نه سول. لکه څرنګه چي مخکي مو وویل، اکبرخان د هندي تسلیم سویو عسکرو څخه د پیاده او توپچي کنډکونو په جوړولو کې کار واخیست. په شمالي کې یو شمېر بندیان د عوامو لاسته ورغلي وه چي ټول یې هندي عسکر وه. د انګلیسي قواوو افسرانو، په کابل کې د انتقامي عملیاتو په ترڅ کې، څه باندي دوه زره هندي عسکر پیدا کړل، چي ځیني یې د غلامانو په څېر خرڅ سوي ول. ډال ریمپل ص ۴۰۷

د یوه هندو عسکر، له یاداشتونو څخه ښکاري چي ډېر نیول سوي هندي عسکر، د ده په شمول، په بازارونو کې خرڅ سول. البته سیتارام یوازنی هندو عسکر دی چي په افغانستان کې د خپلو بدو ورځو په باره کې یې یو څه لیکلي او موږ ته را رسېدلي دي.« ... زه د سر په اړخ کې په یوه ګولۍ ولګېدلم. له دې وروسته په ځان نه یم پوه سوی او کله چي پر هوښ راغلم نو پر آس باندي تړلی وم او د جنګ له میدان څخه کابل ته وړل کېدلم. زه پوه سوم چي کابل ته مي د دې دپاره وړي چي هلته مي د غلام په حیث وپلوري. ما له هغه سړي څخه چي زه یې کابل ته وړلم ځو ځله وغوښتل چي زما غاړه پرې کړي او یا مي وولي. د دې لپاره چي قار ورولم نو په پښتو او خپله ژبه مي ښکنځل ورته وکړل. ځو ځله یې چاړه راته وښوروله خو پوه سو چي زه په چاړه بند نه یم نو راته وې ویل چي که کرار نه سم مسلمان کوي مي. او زه ایله کرار سوم... کله چي سړي ولیدل چي زه تر ژوندي پاته کېدلو مرګ ته ترجیح ورکوم نو زړه یې راباندي وسوځېدی. له آس څخه یې کښته کړم د اوښ په کجاوه کې یې وتړلم. که څه هم چي په عذاب وم

خو پر یابو باندي تر ټولو دا بهتر وو. افغان زما پر زخم باندي واوره وموښله او درد مي کرار سو. موږ په څلور یا پنځه ورځي کي کابل ته ورسېدو. په مایي افغاني جامي واغوستلي او په بازار کي یي خرڅ کړم. شته منو افغانانو له هندوانو څخه د نوکرانو کار اخیستی. زه ښه تکړه وم او په ۲۴۰ روپیو یي خرڅ کړم. د عثمان بېګ په نوم یوه سړي رانیولم. په دغه وخت کي چي زه یي خرڅولم یو شمېر نور هندي سپاهیان او یو څو تنه اروپاییان مي ولیدل چي د خرڅلاو لپاره یي درولي ول. د اروپاییانو څخه یي افغاني پوځیانو ته د تعلیم لپاره کار اخیست. څرنګه چي دوی ته د شیراز شراب هم رسېدل نو تر موږ یي ژوند بهتر وو.

په دې منځ کي مي یو صاحب ولیدی، چي د کمپنی بهادر په پوځ یي اړه درلوده. هغه ماته وویل چي سرکار به یو لوی پوځ افغانستان ته واستوي او دا وطن به بیرته ونیسي. که موږ ژوندي پاته سولو نو له بنده به وژغورل سو. زما یي اوس نوم هېر دی؛ زه ګومان کوم چي والان به نومېدی؛ خو خبرو یي زما زړه یو څه ښه کړ. زما نوي بادار زما سره بد سلوک نه دی کړی. مګر کله چي به مي سپین سترګي وکړه او یا به مي د تېښتي کوښښ وکړ نو بیا به یي تهدیدولم. ما ته به یي ویل چي که د تېښتي کوښښ وکړي نو خصي به مي کړي او پر یوه داسي چا به مي په ډېرو پیسو خرڅ کړي چي په خپل حرم کي د ساتونکي کار راڅخه واخلي. که زما سره والان صاحب د بیرته ژغورل کېدلو امید پیدا کړی نه وای نو ما به حتما ځان وژلی وای...» سیتارام ص ۱۱۵

البته سیتارام د انګرېزانو انتقامي قواوو ته معطل نه سو او یوه ورځ چي صاحب یي غزني ته په سفر تللی وو، له یوې قافلي سره وتښتېدی او ځان یي هندوستان ته ورساوه.

## له دوستانو سره د انګرېزانو نامردي:

کله چي موهن لال وزیر اکبرخان ته مشوره ورکړه چي انګلیسیانو ته ځان تسلیم کړي او یقین لري چي هغوی به بد ورسره ونه کړي نو اکبرخان ورته وویل چي انګرېزان د اعتماد وړ نه دي. پخپله موهن لال هم په خپل کتاب کي دا خبره، البته په یو څه تاءکید تاییدوي. موهن لال پخپله هم د انګلیسیانو نامردی ته حیران دی او وایی چي موږ فتح جنګ، چي دی یي بېچاره هلک بولي، پر تخت کښېناوه او د دښمنانو په خوله کي مو ورکړ. کله چي اکبرخان له بامیان څخه کابل ته نیژدې سو، فتح جنګ هم میدان خوشي کړ « له کابل څخه په دغه ډول تلواري وتلو، موږ خپل غیرت او زړه ورتوب ونه ښود او خپل عزت مو تر پښو لاندي کړ او خپل ډېر ملګري خانان مو هک حیران پاته کړل. ځیني مشران وه چي موږ د خپل عزت په قول له اکبرخان څخه را بېل کړي وه او ورته ویلي مو وه چي موږ به د هغوی ساتنه کوو. اوس چي له افغانستان څخه وزو زه هغوی ته له شرمه خپل مخ نه سم ښکاره کولای. د دوی سترګي له اوښکو ډکي وې او راته وې ویل چي موږ خپل دوستان وغولول او سزا مو ورکړه. د خپلو وطنوالو سره مو په جنګ واچول او د زمریانو په خوله مو ورکړل. کله چي اکبرخان کابل ونیوی؛ نول هغه کسان یي شکنجه کړل چي زموږ طرفداري یي کړې وه او په زور یي پیسي ورڅخه واخیستلي. زه به دا یوه معجزه وبولم او دا به د انګرېزانو په حق کي د خدای مهرباني وبولم چي که تر دې وروسته په افغانستان او ترکستان کي څوک د برتانوي حکومت د مقاماتو په قول اعتبار وکړي. موږ هغه هیواد پرېښود چي زموږ تر ټولو زړه ور عسکر پکښي وژل سوي او تباه

سوي وه. په عین وخت کي مو خپلو دښمنانو ته پیسي او وسلي ورکړي. او دې ته وایی د برتانیي د پوځ د بایللي شهرت بیرته لاسته راوړل!!! » موهن لال دوهم ټوک ص ۴۹۱

هم د اکبرخان اندېښنه او هم د موهن لال لیکنه حقیقت لري. انګلیسیان نه یوازي پر شفاهي قولونو نه درېدل او خپل دوستان یې تل د بلا خولې ته ورکول بلکه د هغو لیکلو قراردادونو او تړونونو مراعت یې هم نه کاوه چي دوی پخپله لاسلیک کړي او حتی د دوی په خوښه او لمسه منځته راغلي وه.

د ګورنرجنرال ایلین برا سکرتر تي ایچ مدوک د ۱۸۴۲ کال د سپتمبر پر دیارلسمه د کندهار د قواوو قوماندان جنرال ناټ ته د ګورنرجنرال په مستقیم هدایت ولیکل چي شهزاده تیمور باید د جنرال ناټ له پوځونو سره ملګری نه سي بلکه باید د پوځ له هغي برخي سره چي سیند ته پرشا کیږي ملګری سي. ګورنرجنرال شهزاده تیمور ته د هیڅ ډول مرستی ورکولو ته زړه نه ښه کوي او د شاه شجاع له کورنۍ سره مربوطو کسانو ته هم مرسته نه ورکوي.

دغه راز یې جنرال پالک ته ولیکل چي که شهزاده فتح جنګ اوس هم ستا په کمپ کي وي؛ کله چي دغه لیک در ورسیږي او یا ته له هغه سره د تماس نیولو وسیله ولرې نو ستا څخه هیله کیږي چي هغه ته ووایي چي د افغانستان حالات پخپله د هغه هیواد په پاچا او خلکو اړه لري او ګورنرجنرال وایي چي د اعلیحضرت شاه شجاع له مړیني او وروستیو پیښو سره هغه درې اړخیز تړون چي د برتانیي د حکومت، فقید مهاراجا رنجیت سینګه او فقید شاه شجاع ترمنځ لاسلیک سوی وو لغو دی. او ته باید د افغانستان مشرانو ته هر وخت ووایي چي دا د برتانیي دریځ دی. پیپرز نمبر ۴۷۹

د ګورنرجنرال هغه تړون په یاد نه وو چي فقط څلور کاله مخکي رنجیت سینګه، شاه شجاع او ګورنرجنرال لارډ آکلینډ لاسلیک کړی او په هغه کي یې لیکلي وه چي د دې تړون درې خواوي د برتانیي حکومت، مهاراجارنجیت سینګه او شاه شجاع الملک د زړه له کومي له پورته مادو سره موافقه لري. له دې موادو څخه باید په هیڅ توګه انحراف ونه سي. او دا تړون باید د تل لپاره په خپل قوت باقي پاته وي. دا تړون د لاسلیک کېدلو څخه وروسته سمدستي نافذ دی. کوریس پانډینس ص ۲۹۳

دا چي ګورنرجنرال به په دې تړون کي د «تل » کلمه هېره کړې وي، دا خبره د منلو نه ده. البته ګورنرجنرال، په خپله خوښه، د تړون د لغو کولو توان او صلاحیت درلود. ګورنر جنرال له تیمور او فتح جنګ څخه هیڅ کار نه سو اخیستلای. په لوی لاس یې ولي د هغوی مسوولیت قبول کړی او ځانته یې بل جنجال پیدا کړی وای.

پخپله موهن لال ته، چي د انګلیسیانو د جاسوسی په تاریخ کي به د ګوتو په شمېر کسانو د هغه په شان خدمتونه کړي او د انګرېزانو د ګټو د ساتلو لپاره به یې ځان د مرګ خطر ته ورکړی او اور ته اچولی وي، څه ورپېښنه سوه؟

ډال ریمپل د موهن لال او د انګلیسیانو د نورو ریښتونو خادمانو د سرنوشت په باب ډېر ښه تفصیل ورکوي.

« هوښسار او پهلوان موهن لال چي د انګرېزانو د قشلي د محاصرې په وخت کي یې د مکناټن لپاره په خپل نامه ډېري زیاتي پیسي پور کړي وې او څه پیسي د یاغیانو د قتلولو لپاره پور کړي او لګولی وې او په ۱۸۴۲ کال کي یې نوري پیسي د انګلیسي بندیانو د خلاصولو لپاره پور کړې او د پور کړو پیسو شمېر یې ۷۹۴۹۶ روپیو ته ورسېدی هیڅا پیسي ورنه کړې او د ژوند تر پایه پوري پوروړی پاته سو. هغه د عدالت د غوښتلو لپاره د خپل ملګري منشي

شمشاد علي سره برتانيي ته ولاړ... په برتانيه کي يې له ډېرو مهمو کسانو سره وليدل ډېري مرکي يې وکړې. په برتانيه کي يې په انګليسي ژبه د اميردوست محمدخان سوانح په دوه ټوکه کي چي ټول نهه سوه مخونه کېدل چاپ کړه. حتى له ملکي ويکټوريا او شهزاده البرټ سره يې وکتل. مګر د افغانستان جنګ ده ته بلا سو او په ژوند کي يې د ده نور پرمختګ ته خاتمه ورکړه.

کله چي هند ته ستون سو نو د لکنهو او حيدرآباد په ښارونو کي يې په انګليسي دفترونو کي د ترجمانی وظيفه ترلاسه نه کړه. برتانوي مقاماتو اعتماد نه په کاوه او هر وخت به يې ويل چي له ځانه يې دروغ جوړ کړي او چي څه وايي هغسي نه دي. نه يوازي يې په حکومت کي وظيفه پيدا نه کړه له خپلي کشميري پنډت ټولني څخه پردی سو. په ۱۸۵۷ کال کي د ډهلي په پاڅون کي ايله له مرګه خلاص سو ځکه چي خلکو د انګليسيانو د جاسوس په تور واژه. په ۱۸۷۷ کال کي په غريبي او ګمنامي کي په داسي حال کي مړ سو چي هم استعمار چيانو او هم يې وطندارانو شړلی وو.

سدوزايي شهزاده ګان هم تر دې بهتر نه وه. د ۱۸۴۳ کال د مارچ تر مياشتي پوري دوی ټول په لاهور کي بند پاته وه نه افغانستان ته ستنېدلای سوای اونه يې برتانوي هند ته د داخلېدلو اجازه درلوده. دوی هم لکه خپل پلار چي په لاهور کي د سيکهانو څخه په وهم کي وو چي هسي نه جواهرات يې ورڅخه غلا نه کړي هره ورځ په وېره کي وه. کله چي يې د خپل ماشوموالي کور لوديانې ته د داخلېدلو اجازه ترلاسه کړه نو ورته وويل سوه چي دوی ته به لږي تنخواوي ورکولې کيږي او کورونه به يې هم ډېر واړه وي. د هند په آرشيفونو کي د دوی او د پوروړو تر منځ د دعوو اسناد پراته دي او ټولو په غريبي کي ژوند کاوه. کپتان کولين ميکنزي په خپلو خاطراتو کي وليکل چي دا ډېر زور غواړي چي سړی پخواني شته من او نازولي کسان په داسي بد حالت او نيستي کي وګوري. په دوی کي يوه خپله توره خرڅه کړه او ځانته يې ګوله ډوډی برابره کړه. د شاه شجاع يوه زاړه درباري ويل چي تمامه ورځ يې له لوږي روژه وي اوکله چي يو څه دال ور ورسيږي نو په کور کي يې جشن وي.

په سترګو ړوند شاه زمان خو درخواستي ورکړه چي د سرهندي په زيارت کي دي د متولي په حيث د ژوند کولو اجازه ورکړه سي مګر د پټيالي راجا اجازه ورنه کړه او کله چي شاه زمان په ۱۸۴۴ کال کي وفات سو نو مهاراجا ايله اجازه وکړه چي د هغه مړی دي د شيخ احمد سرهندي په زيارت کي د خپلي خوښيني څنګ ته، چي د شاه شجاع مېرمن او د امير دوست محمدخان خور وه ښخ سي.» ډال ريمپل ص ص ۴۲۳- ۴۲۴

انګرېز جنرال، چي له دې پېښو څخه څه باندي څلوېښت کاله وروسته په پېښور کي کميشنر وو، د افغان مهاجرينو په باره کي ليکي چي هري خواته ګورې نو د کابل، لغمان او جلال آباد له پخوانيو اوسېدونکو سره به مخامخ سي، چي په خواري غريبي لګيا دي او چي پوښتنه ورڅخه وکړې نو د ټولو دا يوه خبره وي چي کله انګليسيانو پر افغانستان باندي يرغل وکړ دوی د هغوی ملګري سول او هغوی له افغانستان څخه تر وتلو وروسته پر سپين ميدان پرېښودل او دغه يې نتيجه سوه. دی ليکي چي په سل ګونو دغه راز کسان په راولپنډي، لاهور، امرتسر، ديره دون، کراچي، کوټه او د پنجاب پر پوله په نورو ځايونو کي سرګردانه کرځي. واربرټن ص ۱۰۵

اميردوست محمدخان د پنجاب د لاري کابل ته ستون سو. د پنجاب مهاراجه شېرسينګه، چي د رنجيت سينګه زوی وو، د هغه ډېر تود هرکلی وکړ. او له لويي بدرګي سره يې د کابل پر لور روان کړ. په کابل کي نواب محمدزمان خان، سلطان احمدخان او نورو سردارانو هر يوه ځان د پاچهی لايق باله او د هغوی تر منځ د اختلاف په نتيجه کي

بیرته د لوی داخلي جنګ د پیل کېدلو خطر موجود وو. هغوی لا د خلکو د اذهانو د غولولو لپاره له یوه بل چال څخه هم کار واخیست او هغه دا چې په کابل کې یې داسي آوزه واچوله چې د جهاد لپاره یوه روحاني مشر ته، چې سید وي، ضرورت لري او د دې کار لپاره تر میرحاجي بل وړ سړی نسته او نواب زمان خان ، سلطان احمدخان او پخپله دوست محمدخان به د جهاد لپاره پوځي چارې پر غاړه واخلي. عطامحمد ۱۸۶

امیردوست محمدخان خېل زامن سردارمحمدافضل خان، سردار غلام حیدرخان، سردارشیرعلي خان او سردار محمداکرم خان، ډېر ژر کابل ته ولېږل او د هغوی له رسېدلو سره د امیردوست محمدخان د مخالفینو قوت کمزوری سو او هغه ته د قدرت نیولو لاره هواره سوه. کاتب ص ص ۱۹۲-۱۹۳

امیردوست محمد خان، د امین الله خان لوګري او طره باز خان په شمول، له ټولو هغو قومي مشرانو څخه چې د انګرېزانو پر ضد د غزا په وخت کې یې مالونه او غنیمتونه ترلاسه کړي وه، د خزانې د ډکولو او د حکومتي چارو د تنظیمولو په منظور، په زرهاوو روپۍ حصول کړې او حکومتي چارې یې پیل کړې. عطامحمد ص ۱۸۶

په دې توګه د افغان او انګلیس لومړی جنګ، چې څه کم درې کاله یې دوام وکړ، د افغانستان د پایتخت په شمول د ښارونو او کلیو په تباهی، د زرهاوو افغانانو په قربانی او پخپله د انګرېزانو په بدنامی پای ته ورسېدی.

مشهوره خبره ده چې وایي کله چې د برتانوي هند ګورنر جنرال لارډ الینبرا دوست محمدخان ته د مخه ښې مېلمستیا کړې وه او عسکري رسم ګذشت یې ورته تېراوه نو امیر هغه ته مخ ور واړاوه او پوښتنه یې ورڅخه وکړه چې تاسي ته خدای دونه نعمتونه او دونه آباد ملکونه او ثروتونه درکړي دي. تاسي زموږ له نېسمتن هیواد څخه چې ټول وچ غرونه او دښتونه دي څه غوښتل؟

# کندهار:

که د انګلیسیانو یوه لویه قوه په کابل کې تباه سوه، یوه برخه یې په جلال آباد کې محاصره او بله برخه یې په غزني کې محاصره وه نو یوه لویه برخه یې د جنرال ناټ تر قوماندې لاندې په کندهار کې پرته وه.

د برتانوي هند نوی ګرنرجنرال لارډ الینبرا، چې د لارډ آکلینډ پر ځای، چې د افغانستان د جنګ د پیل کولو او په نتیجه کې د برتانیې د پوځ د تباه کېدلو پړه وربانديې اچوله کېدله، ټاکل سوی وو او د افغانستان وروستیو رپوټونو دونه وارخطا کړی وو چې نه یې پر کابل باندې د جنرال پالک د انتقامي قوې پر مختګ ته زړه ښه کاوه او نه یې په کندهار کې د جنرال ناټ د زیات پاته کېدلو سره موافقه کولای سوای. هغه جنرال ناټ ته امر وکړ چې له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو را ایستل پیل کړي؛ البته هغه ته یې دونه اختیار ورکړی وو چې که غواړي د بولان او کوټې له لارې را وتلای سي او که نه وي نو د کندهار غزني او کابل له لارې دې راووزي. جنرال ناټ دوهمه لاره غوره کړه او جنرال اینګلینډ یې د بولان له لارې واستاوه. جنرال ناټ په لاره کې هم په قلات او هم په مقر کې د غلجیو له سخت مقاومت سره مخامخ سو. د غزني بالاحصار یې ونړاوه. په ښار کې یې ځیني قلاوې چور کړې او د سلطان محمود قبریې خراب کړ. د هغه د زیارت دروازه یې، چې په دروغو یې د سومنات د معبد د دروازې نوم وربانديې ایښی وو، له ځانه سره واخیستله او د کابل پر لور وخوځېدی.

گورنرجنرال د شاه شجاع زوی شهزاده تیمور ته، چي په کندهار کي پاته سوی وو، ولیکل چي نور باید د برتانیي پر مرستو باندي حساب ونه کړي او خپلي چاري پخپله سمبالي کړي. دا وخت صفدرجنګ، چي تر ډېره پوري د میرزا احمدخان او اخترخان علیزي سره ملګری وو، د شهزاده تیمور ملګری سوی وو او عطامحمدخان بامیزایي هم له غازیانو څخه مخ اړولی او د شهزاده تیمور په دربارکي یي ځای نیولی وو. د کندهارسرداران، چي له لومړی ورځي بیا تر مرګه پوري د ایران دربار ته وفادار پاته سول، د کندهار د وروستیو خبرونو له اورېدلو او د انګلیسي قواوو د وتلو سره له ایرانه را روان سول. په ګرشک کي ډېر زیات کسان ورسره ملګري سول او شهزاده تیمور، چي په ځان کي یي د مقاومت توان نه درلود، خزانه یي تشه وه او د انګلیسي دوستانو له ملاتړ څخه محروم سوی وو، د کوټي له لاري، د هندوستان پر لور حرکت وکړ او ځان یي له حتمي مرګ څخه وژغوری. عطامحمد خان بامیزي هم سمدستي خپله جبهه بدله کړه او د سردارانو سره ملګری سو.

د کندهار سردارانو، چي پر افغانستان باندي د انګلیسیانو د لښکرکښی څخه مخکي یي، د قدرت په شپو ورځو کي، خلک له ظلمونو او تېریو څخه تر سرمو رسولي وه، کندهار ته د رسېدلو سره یي د اسلامي شریعت د نظام د ټینګولو ناره پورته کړه. شراب یي، چي د انګلیسیانو د حکومت په زمانه کي ډېر رواج سوي وه، بند کړل او د شرابو خمونه یي په لارو کوڅو کي چپه او مات کړل. پر هندوانو باندي یي، د اسلام په نامه، نوي تعزیرات ولګول او په ښار کي یي محتسبان مقرر کړل.

دې وضعي ډېر دوام ونه کړ او لږ وخت وروسته، چي دوی د خپل واک او قدرت څخه مطمین سول نو بیرته هغه آش او هغه کاسه سوه. لومړی خو یي له خلکو څخه انګلیسي سکي په زور واخیستلې. ټولي یي ویلي کړې او له یوې سکې څخه یي دوې جوړي کړي . او په دې توګه یي خپله خزانه ډکه کړه. او نور یي نو د هیڅ ډول ظلم او تېري څخه مخ نه اړاوه. عطامحمد ۱۸۸-۱۸۹

# نتیجه

انګلیسیانو او بل هیڅ لوی طاقت پر افغانستان باندي د یرغل کولو او اشغالولو لپاره هیڅ وخت دلیل نه دی درلودلی. هیڅ وخت یي د یوه بل څخه درس نه دی اخیستی او هر وخت بیرته په تور مخ وتلي دي. مګر په مقابل کي افغانانو هم، د تل په شان، د پردیو له شړلو وروسته د یوه بل ګریوان ته لاس اچولی او د یوه بل په وینو یي لاسونه سره کړي دي او چي سړی ګوري نو یوازنی شی چي افغانان نه ورڅخه ستړي کیږي هغه کور په کور او قام په قام بدي ده چي له سل ګونو کلونو راهیسي روانه ده او لا یي د ختمېدلو درک هم نه معلومیږي.

که د افغان او انګلیس د لومړي جنګ په ترڅ کي د کندهار عطامحمدخان بامیزی، میرزااحمدخان، د زمینداور اخترخان علیزی او نور مشران له انګلیسیانو سره تر هر ځل جنګ وروسته بي اتفاقه سوي نه وای. که دې ټولو مشرانو د هرات له وزیر یارمحمدخان الکوزي سره لاس یو کړی وای. که دې ټولو مشرانو، له کندهار څخه تر کابل پوري، پرتو غلجیو قبایلو او مشرانو سره اتفاق درلودلای. که دوي ټولو په ګډه د کابل د پاڅون له مشرانو سره لاسونه یو کړي وای او که پخپله په کابل کي د پاڅون د مشرانو ترمنځ اتفاق موجود وای او بیا یي په ګډه هم د شینوارو او هم د کوهستانیانو ملاتړ کړی وای او دې اتفاق دوام کړی وای نو هم به انګلیسیانو داسي ماته کړې وای چي د انتقامي عملیاتو په باب یي د فکر کولو او تصمیم نیولو جرأت نه وای کړی. له افغانانو سره د دوهم ځل جنګ د پیل کولو په باره کي به یي، چي په همدغه ډول غیرعادلانه او ظالمانه شکل یي ورسره شروع کړ، شل ځله فکر او غور کړی وای. د افغانانو لپاره به د دواړو جنګونو نتیجه سل ځله بهتره وای او د تل لپاره به یي د یوه ملي اتحاد، چي د ټولو اجتماعي رنځونو علاج دی، بنسټ ایښی وای.

امیر دوست محمدخان، چي د افغانستان له ترټولو هوښیارو او زړه ورو مشرانو څخه يې شمېرلای سو، سره له هغه چي ټول عمر او د قدرت ټول کلونه يې له خپلو ورونو او سردارانو سره په کورنيو جنګونو کي تېر سوی وو، د دوهم ځل پاچاکېدلو په وخت کي يوه لويه اشتباه وکړه او هيواد يې د خپلو زامنو ترمنځ، چي ده به تر بل هر چا زيات اعتماد وربانديي درلود، تقسيم کړ. د هغوی ترمنځ وروړګلوي او اتحاد د ده تر وفات پوري دوام وکړ او چي د امير سترګي د تل لپاره پټي سوې د سکه او ناسکه ورونو ترمنځ د قدرت د نيولو پرسر جنګونه پيل سول او په نتيجه کي، د دوهم ځل لپاره، پر افغانستان باندي د انګليسيانو د غيرعادلانه او ظالمانه يرغل بلا نازله سوه.

که بيرته خپلي مخکنی خبري ته وګرځو او هغه بدمرغي احصايې، چي د افغانستان په باره کي، د ملګرو ملتونو او بشري موسسو، بېطرفو ادارو خپرې کړي دي، ومنو چي د ردولو لپاره يې دليل هم نه لرو نو په پوره زړه ويلای سو چي زموږ د هيواد منورينو نه په داخل او نه په بهر کي، د ملي وحدت د ټينګولو لپاره، چي د ټولو دردونو علاج دی، خپله وظيفه سرته نه ده رسولې.

خلک نه دښمني سره لري او نه د اتحاد کولو لپاره د تنظيمونو جوړولو پوهه او وسايل لري. دا منورين دي چي د هيواد د اولسونو د بدمرغه کېدلو دا تر ټولو ناروغيو مهلک مرض تشخيصوي او علاج يې هم د دوی په وس پوره دی. دغه راز د اولسونو ترمنځ د بې اتفاقی اچولو مسووليت هم دوی ته ور ترغاړي دی او زه په جرأت سره ويلای سم چي په دې مسووليت او ګناه کي د منورينو غټ اکثريت شريک دی.

## مأخذونه


۱ : عطامحمد، میرزا. نوای معارک. کابل ۱۳۳۱ هجري شمسي.
۲:هراتي، محمدحسین. واقعات شاه شجاع. دفتر سوم. مطبعه عمومي کابل. ۱۳۳۳
۳: فیض محمد، کاتب. سراج التواريخ. کابل ۱۳۳۳ هجري قمري

٤: Kaye, John William. History of the War in Afghanistan Vol٢. First Indian Reprint ١٩٩٩.
٥: Dal Rymple, William. Return of a King. United States ٢٠١٣.
٦: Mohan Lal. Life of Amir Dost Mohammed Khan of Kabul Vol٢. Oxford University Press. ١٩٧٨.
٧: Eyre, Lieut. Vincent. The Military Operations at Cabul. Peshawar Reprint of ١٨٤٢.
٨: Sita Ram. From Sepoy to Subedar. Edited by James Lunt. Lahore Reprint ١٩٧٠.
٩: Warburton, Sir Robert. Eighteen Years in the Khyber, ١٩٧٩-١٩٩٨. Reprint India ٢٠١٣.
١٠: Edwardes, Sir Herbert Benjamin& Herman Merivale. Life of Sir Henry Lawrence Vol١.Lahore Pakistan ١٩٩٨.
١١: Sale,Lady. A Journal of the Disaster in Afghanistan. ١٨٤١-٢ . Lahore ١٩٦٩.
١٢: Frontier and Overseas Expeditions From India. Selection From Government Record Vol٣.
١٣: Raverty, Capt. H.G. A Dictionary of the Pukhto, Pushto or Language of the Afghans. New Dehli ١٩٩٥.
١٤: Raverty, Capt. H.G. Notes on Afghanistan and Baluchistan Vol١. Reprint, Quetta Pakistan.
١٥: Papers Related to Military Operations in Afghanistan. Presented to both houses of Parliament ١٨٤٣.
١٦: Correspondence Related to Persia and Afghanistan. London ١٨٣٩.
١٧: Gleig, Rev.G.R. Sale’s Brigade in Afghanistan. London ١٨٧٩


**پـــــای**

ملي وحدت زموږ د تاريخ په رنا کي
jahani_bahaari_mili_wahdat_de_taarikh_paronake.pdf